# په افغانستان کې د برحاله مقاماتو له خوا اخلاقي څارنه: پر بشري حقونو يې اغيزې

د ۲۰۲۴ کال جولاې میاشت

د ملګرو ملتونو لپاره د بشري
حقونو عالي کمیشنر دفتر

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

# د مطالبو لړلیک


**د دغه راپور په اړه** ۳
**د راپور لنډیز** ۳
**میتودولوژي** ۵
**مخینه** ۵
**برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ماموریت** ۶
**د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا خپرې شوې کلیدي لارښونې او د هغوي تطبیق** ۷
پر رسنیو محدودیتونه ۷
محرم (نارینه سرپرست) ۷
حجاب ۸
په پارکونو، جیمونو او عامه حمامونو کې د ښځو بندیز ۹
د ښځو په مشرۍ د کاروبارونو لپاره خنډونه ۱۰
د امیندوارۍ د مخنیوی درملو ته لاس رسی ۱۱
د افرادو ترمنځ پر خپلمنځي اړیکو محدودیتونه ۱۱
د نارینه وو د ظاهر په اړه مقررات ۱۲
د مذهبي اعمالو په اړه مقررات ۱۲
د منکراتو مخنیوی: موسیقي او قیلون ۱۴
د انسانانو او حیواناتو د انځورونو پر ننداره بندیز ۱۵
د غیر اسلامي جشنونو پر لمانځلو بندیز ۱۶
**د طالبانو د مشر د فرمانونو، احکامو او لارښوونو پلي کولو طریقې** ۱۶
**په برحاله ادارو کې د شکایتونو اوریدلو په میکانیزم کې د معیارونو رعایتول** ۱۸
**برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پراخیدونکی نقش** ۲۰
**پر بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو اغیزې** ۲۱
**پایله** ۲۳
**ضمیمه** ۲۵

## د دغه راپور په اړه

دغه راپور د اوسنیو موضوعاتو اړوند د بشري حقونو د موضوعي مطالعاتو د لړۍ یوه برخه ده، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشر حقونو د څانګې له خوا د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک په چوکاټ کې کوم چې د ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) شمېره پریکړه لیک له مخې په دی وروستیو کې تمدید شوی، ترسره شوې. ۲۶۲۶ شمېره پرېکړه لیک یوناما ته دنده سپاري چې "په ملي او ځایي کچو له ټولو ذیدخلو خواوو، مدني ټولنې او نړیوالو نادولتي سازمانونو سره په ښکیل کیدو سره، د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنې او ودې کې"، او د ولسي وګړو د وضعیت (او) د تاوتریخوالي مخنیوي او له منځه وړل وڅاري، په اړه یې راپور ورکړي او د هغوي حمایت او مدافعه وکړي."[1] د دغه تعامل د یوې برخې په توګه، د افغانستان برحاله چارواکو ته د راپور د محتوا په اړه د واقعي تبصرو د وړاندې کولو بلنه ورکړل شوې وه او د هغوي ځواب له راپور سره ضمیمه شوی. د دغه تعامل د یوې برخې په څېر، د افغانستان برحاله چاراوکي د راپور د محتوا په اړه د حقیقي تبصرو ورکولو ته رابلل شوي وو. هغوي یوناما ته د ۲۰۲۴ کال د می پر ۱۳ نېټه د راپور په اړه په پښتو ژبه ځواب ورکړی، او په بشپړ ډول په ضمیمه کې شامل شوی. د مشخصو پېښو او موضوعاتو په اړه د دوي تبصرې د راپور په متن کې، لکه څنګه چې مناسبه وه، رانغاړل شوي او په ایټالیک ډول ښودل شوي.

## د راپور لنډیز

طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټې پر افغانستان د ولکې وروسته، د هیواد د اداره کولو او د بشري حقونو له نړیوالو مکلفیتونو سره د تطابق عملا مسؤولیت ترلاسه کړ. تر ولکې وروسته، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ګډون، برحاله اداري د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر پر ۷ نېټه رامنځته شوې. د فرمان له مخې امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون (تر اوسه خپور شوی نه دی)، د فرمان له مخې د شکایتونو اوریدلو قانون او د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو برحاله وزارت لایحې هغه کلیدي اسناد دي چې موخه یې د دې برحاله وزارت د مسوولیتونو او صلاحیتونو معرفي کول دي.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خپلو ولایتي ریاستونو سره یو ځای د پالیسي په وضع کولو، سلا مشورو، څارلو، د شکایتونو په حل او تطبیق کې برخه اخلي. د دغه برحاله وزارت ماموریت او لید لوري په داسې ډول د ټولنې اصلاح کول دي چې خلک د معیاري ارزښتونو یوه داسې ټولګه رعایت کړي چې د طالبانو له لیدلوري سره سم له "اسلامي امارت" سره په تطابق کې وي، چې له اسلامي قانون څخه د برحاله چارواکو د تعبیر پر اساس نیک کارونه ترسره کړي او د بدو هغو مخه ونیسي. دغه کار له برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت څخه د دې غوښتنه کوي چې د طالبانو د مشر له خوا صادر شوي مشخص فرمانونه تطبیق کړي او دغه راز په دې اړه نورې لارښوونې خپرې کړي چې کوم شی معروفات او کوم منکرات ګڼل کېږي.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له جوړېدو راهیسې د دغه برحاله وزارت فعالیتونو لا وار د مخه پر ښځو له توپیري او نا متناسب اغیز سره په افغانستان کې د میشتو وګړو د ژوند په مختلفو برخو کې له بشري حقونو او بنسټیزو آزادي ګانو څخه پر برخمن کېدو منفي اغیزې ښیندلي.[2] برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د برحاله چاراوکو له شریعت څخه د تعبیر پر بنسټ د مکلفیتونو او ممانعتونو اړوند لارښوونې خپرې کړي. دغه لارښوونې په مختلفو شکلونو او ډیری وختونه یوازې په شفاهي ډول وي، او په مشخصو مواردو کې وضاحت، ثبات او قانوني معین والی نه لري. ځینې وختونه د دغو لارښوونو په رعایتولو کې پاتې راتلل د سختو مجازاتو لامل کېږي. د صادر شویو لارښوونو په اړه ابهامات او تناقضات، چې د وړاندوینې وړ نه وي، د نه رعایت اړوند د مجازاتو شدت او نه متناسبتوب او په خصوصي حریم کې د افرادو د فعالیتونو د تنظیم په پار محدودوونکي اقدامات د یو ډله وګړو ترمنځ چې افغانستان کی اوسیږي له ویرې او ګواښ ډک چاپیریال په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي.

[۱] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ پریکړه لیک، پرګراف ۵ (ث).
[۲] پر ښځو او نارینه وو تطبیق کیدونکې پالیسي ګانې ښایي همدارنګه په ترتیب سره نجونې او هلکان اغیزمن کړي، ځکه چې برحاله چاراوکي د بلوغیت د عمر په اړه متضاد نظر لري. په ۳۵۳ شمېره رسمي جریده کې پر ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ (۱۹۷۷/۰۱/۰۵) نېټه خپور شوی د مدني قانون ۷۰ ماده د یوې ښځې لپاره د واده عمر ۱۶ کلونه او د یوه نارینه لپاره ۱۸ کلونه ټاکلی. د مدني قانون په ۳۹ ماده کې، له ۱۸ کلنۍ پورته شخص (دواړه نارینه او ښځینه) په سوداګریزو معاملاتو کې د بشپړ حقوقي شخصیت لرونکی پیژندل کېږي. د ۲۰۱۷ کال د مې د ۱۵ نېټې (۱۲۶۰ شمېره) د جزا قانون په ۹۵ ماده کې، ماشوم د یوه داسې شخص په څېر پیژندل شوی چا چې د ۱۸ کلنۍ عمر نه وي پوره کړی. له دې سره سره، د طالبانو تر ولکې وروسته دا روښانه نه ده چې آیا دغه قوانین لا اوس هم نافذ دي. په عمل کې، په عام ډول جسمي ځانګړنې لکه ږیره د دې معلومولو لپاره کارول کېږي چې آیا یو شخص بالغ دی او که نه.

د دغو لارښوونو ډيری هغه يې د ښځو په عامه او خصوصي ژوند کې لاسوهنه کوي. د مثال په ډول، د ښځو پر سينګارتونونو، په فلمونو کې د ښځو پر راښکارېدو بنديز او د ښځو په مشرۍ د نورو کاروبارونو تړل د ښځو **د کار کولو حق او د ژوندانه د کافي معيار د تر لاسه کولو حق** محدودوي. له خپلو کورونو څخه له ۷۸ کيلو مترو د زيات واټن لپاره د ښځو لپاره له محرم سره د سفر شرط د هغوي **د تګ راتګ د آزادۍ حق** محدودوي او د هغوي لپاره د استخدام او روغتيايي خدمتونو ته په لاس رسي کې مالي او لوژيستکي خنډونه رامنځ ته کوي. ښځې همدارنګه د تفريح او تمرين کم شمېر انتخابونه لري. پارکونو، جيمونو او عامه حمامونو ته د هغوي پر لاس رسي بنديز لا زيات **د جسمي او رواني روغتيا تر ټولو لوړ تر لاسه کيدونکي معيار حق** اغيزمنوي. په ځينو مواردو کې په ژمي کې عامه حمامونه د ښځو لپاره د حمام ګرمو اوبو ته د لاس رسي يوازنۍ لار ګڼل کېږي. سربېره پر دې، د اميندوارۍ مخنيوي درملو ته د لاس رسي محدوديت **د ښځو د جنسي او زېږون روغتيا حق** نقض کړي.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د هغه څه د مخنيوي په پار چې په آند يې "غير اسلامي" او نا مناسب فعاليتونه ګڼل کېدل ډول ډول بنديزونه صادر کړي، لکه موسيقي، د قيلون کارول، د انسانانو او حيوانانو د انځورونو ښکاره کول، تور جادو، نوي کال (نوروز) او د مئينانو ورځ لمانځل. د نوروز لمانځل، د موسيقۍ انځورونو، عامه مجسمو او د انسانانو او حيوانانو د انځورونو په وسيله د هنري تعبير بيانولو د ممنوعيت اقدامات د يوه فرد **په کلتوري ژوند کې د ګډون حق** کې لاس وهنه ګڼل کېږي. د انسانانو د انځورونو پر ښودلو بنديز د عامه معلوماتو د خپرولو په وړاندې عملي ننګونې رامنځ ته کوي، په ځانګړي ډول د ماشومانو او نا لوستو وګړو لپاره د عامه روغتيا او د چاوديدونکو توکو په اړه د پوهاوي د لوړولو په برخه کې.

د قبول شوي ظاهر او لباس په اړه لارښوونې ښځې ملزم کوي چې د حجاب حکم مراعات کړي او نارينه بايد ټاکل شوې د ږيرې د اوږدوالي او د وېښتانو سټايل رعايت کړي. سلمانان اجازه نه لري چې ږيرې او وېښتان په "غربي" سټايل جوړ کړي. دغه لارښوونې د هغوي **د بيان آزادي** محدودوي. د حجاب اړوند فرمان په پلي کولو سره د ښځو **د تګ راتګ آزادي**، د خپلسرو نيونو او توقيف کولو د ويرې له امله لا زيانمنه شوی ده.

نارينه وو ته دغه راز لارښوونه شوې وه چې په جماعت سره د لمانځه اداء کول رعايت کړي. د دغو لارښوونو نه رعايتول ځينې وختونه د شديدو مجازاتو لامل شوي. سربېره پر دې، داسې موارد ثبت شوي چېرې چې افراد له دې امله د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د رياستونو د ناوړه چلند قرباني شوي ځکه چې هغوي د برحاله چارواکو د توصيې نه پرته د نورو عقايدو پيروي کړې وه، چې دغه کار د شخص **د فکر، وجدان او مذهب د آزادۍ** مانع ګرځي.

ويل کېږي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پراخ ماموريت لري او د تطبيق مختلفو طريقو څخه کار اخلي، چې شفاهي ګواښونه، نيونې او توقيفونه، ناوړه چلند، او په عام محضر کې په دورو وهل په کې شامل دي. د خلکو **د خصوصي حريم حق** د هغوي په تيلفونونو يا موټرونو کې د منع شويو شيانو لپاره د تلاشي، په جوماتونو کې د هغوي د حاضري د اخيستلو، يا په عام ځايونو کې د کورنۍ اړيکې د ثبوت ښودلو ته د اړ کولو له لارې نقض شوی. د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د لارښوونو د سرغړونو سره مله ناوړه چلندونه، خپلسرې نيونې او توقيفونه **د شخص د آزادۍ، او جسمی او روحي سلامتيا** څخه مستقيمې سرغړونې ګڼل کېږي. جسمي سزا **د شکنجې او نورو ظالمانه غير انساني يا د سپکاوي ډک چلند يا مجازاتو ممنوعيت** څخه سرغړونه ده.[3] د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ او د ۲۰۲۴ کال د مارچ د ۳۱ نېټې ترمنځ، يوناما د بشر حقونو ځانګړې لږ تر لږه ۱۰۳۳ موارد (۲۰۵ د ښځو په وړاندې، ۸۲۸ د نارينه و په وړاندې) مستند کړي، چيرې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د لارښوونو د تطبيق پرمهال زور کارولی. په ځينو قضاياوو کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت دا په ډاګه کړې چې خلکو سره په فرمانونو کی د مقرر شوو معيارونو رعايت کی په نورو طريقو سره مرسته کړې. په يوه مورد کې يې د کورنۍ په استازيتوب پيرودونکي ته د پور د ورکړې له لارې د يوې نجلۍ د پلور مخه نيولې.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ته همدارنګه د برحاله چارواکو د منسوبينو په ضد د شکايتونو د حل دنده سپارل شوې. خو د شکايتونو د اورېدو د ښځينه مامورينو نشتون ښځې د خپلو شکايتونو له وړاندې کولو راګرځولې، ځکه په افغان کلتور کې د

[3] وګورئ، يوناما، جسمي مجازات او د اعدام سزا په افغانستان کې، مې ۲۰۲۳، پاڼې ۷-۸ او ۱۹. د لاس رسي وړ: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0. (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

ښځینه شکایت کوونکو او د شکایتونو د نارینه مامورینو ترمنځ تعامل په پراخه کچه د منلو نه دی. په داسې حال کې چې برېښي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د خپلو کارمندانو ترمنځ د نظم د ښه کولو په پار ګامونه پورته کوي، د دغه برحاله وزارت د هغو کارمندانو لپاره د روښانه احتساب نشتون چې د ناوړه چلند مرتکب کېږي، د شکایتونو د اوریدلو د دغه میکانیزم په اړه د خلکو باور اغېزمن کړی. سربېره پر دې، ځینې وختونه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د کاري ساحې له چټکې پراختیا سره یو ځای د نقش د وضاحت نشتون ښايي د دغه برحاله وزارت د ځینو کړنو د خپلسرۍ لامل شوی وي، کوم چې د برحاله وزارت د کارمندانو له خوا ترسره شوي د بشري حقونو په سرغړونو کې لا زیاته مرسته کوي.

د ۲۰۲۳ کال له مارچ راهیسې، د برحاله لوي څارنوالۍ نوم بدل شو او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت پر لوی ریاست[۴] واوښته، کوم چې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ګډون د برحاله ادارو له لورې د طالبانو د مشر له خوا د خپرو شویو فرمانونو، حکمونو او لارښوونو تطبیق څاري. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پر ماموریت د دغه کار اغیز لا تر اوسه نه دی لیدل شوی.

افغانستان د یوه دولت په توګه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق او د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو د نړیوال میثاق په ګډون د بشري حقونو د اوو نړیوالو سندونو غړی دی. نو له دې امله، برحاله چارواکي په قانوني توګه مکلف دي چې په هیواد کې د میشتو ښځو، سړیو، نجونو او هلکانو د بشري حقونو د ساتنې او هغوی ته د ودې ورکولو په پار اعظمي هڅې ترسره کړي.

## میتودولوژي

دغه راپور د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې څخه د ۲۰۲۴ کال د مارچ میاشتې تر ۳۱ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي او په ټول هیواد کې د بشري حقونو د سرغړونو د څارنې او مستندولو پر بنسټ بناء دی. په دغه راپور کې په کارول شویو ارقامو کې دواړه، په عام ډول د لاس رسي وړ معلومات (لکه عامه خبرتیاوې، د برحاله منسوبینو اړوند د خواله رسنیو پوستونه، د برحاله چارواکو انټرنیټ پاڼې) او د بشري حقونو د سرغړونو هغه قضیې شاملې دي چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مستندې شوې. په دغه راپور کې د بشري حقونو د نقض هغه قضیې شاملې دي چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د هغو سرچینو له لارې تائید شوې چې د پېښې په اړه مالومات لري او برابر شویو مالوماتو د بشپړتوب پر اساس باوري په ګوته شوې. د یوناما د بشري حقونو څانګې په راپور کې هغه قضیې نه دي شاملې کړي کومې چې د هغوی پر باوريتوب او کره توب پوره ډاډ نه وو. معلوماتو ته لاس رسي کې د خنډونو په پام کې نیولو سره احتمالي کمه راپور ورکونه تائیدوي. په ځینو مواردو کې، د پېښو تشخیصوونکي تفصیلات د هغو کسانو د ساتنې په پار لرې کړای شوي چا چې د سرغړونو په اړه خبر ورکړی.[۵]

## مخینه

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه طالبان پر افغانستان حاکم شول. تر ولکې وروسته د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر پر ۷ نېټه یې د برحاله امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اوریدلو وزارت[۶] په ګډون د برحاله ادارو تشکیل اعلان کړ. دغه برحاله وزارت تر ډېره په انګلیسي کې د امر

[۴] د طالبانو مشر ، "د لویې څارنوالۍ څخه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست ته د نامه د بدلون په هکله" د ۲۰۲۳ کال د مې د ۷ نېټې ۳۵ شمېره فرمان وګورئ، کوم چې د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۱۱ نېټه په ۱۴۳۴ شمېره رسمي جریده کې خپور شوی (پښتو او دري).

[۵] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له راپور سره سم، د ۲۰۲۲ کال د مې له ۱ څخه د ۲۰۲۳ کال د اپریل تر ۳ نېټې پورې، یوناما او د ملګرو ملتونو نورو ادارو د ښځو په ګډون د افرادو پر ضد په افغانستان کې له ملګرو ملتونو سره د همکارۍ له امله د برحاله چارواکو له خوا د غچ اخیستنې موارد مستند کړي. "د راپورونو له مخې دوه کسان په خپلسري ډول په ترتیب سره د درې اونیو او پنځو ورځو لپاره توقیف شوي او دوه نور د پوښتنو ګروېږنو لپاره وړاندې شوي او یا هم د تحقیق پرمهال ګواښل شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوي او بیا خوشې شوي."د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور، د بشري حقونو په برخه کې له ملګرو ملتونو، د هغوي له استازو او میکانیزمونو سره همکاري (۲۱ اګست ۲۰۲۳)، A/HRC/54/61، ۱۹ مخ وګورئ. پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی:
https://undocs.org/Home/Mobile?FinalSymbol=A%2FHRC%2F54%2F61&Language=E&DeviceType=Desktop&LangRequested=False (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۶] امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قران کریم مشهوره اصطلاح ده چې "د معروفاتو د اقامه کولو او منکراتو د مخنیوي په معنا ده". د دغه برحاله وزارت نوم د قران کریم دغې اصطلاح ته راجع کیږي، د وزارت په نوم کې د "شکایتونو اوریدل" په اضافه کولو سره د شکایتونو د اوریدو په اړه د هغه ماموریت منعکسوي. نو له دې امله د برحاله وزارت رسمي نوم د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اوریدلو وزارت دی خو په عام ډول د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په نامه یادیږي. د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت رسمي نوم د نومورې وزارت په ویب پاڼه کې وګورئ: https://mopvpe.gov.af/ps (دری) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).

بالمعروف او نهي عن المنكر وزارت په نامه پېژندل کېږي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ماموریت د عنعنوي مکلفیت پر بنسټ ټول مسلمانان یو د بل په وړاندی په احتساب مکلف کوی " امر بالمعروف او نهي المنكر" – "پر نیکو کارونو امر کول" د هر مسلمان انفرادي مکلفیت ګڼل کېږي، او د خلکو یوه ځانګړې ډله د دغه مکلفیت لپاره ټاکل کېږي چې له ټولو خلکو د مناسب چلند غوښتنه کوي.[7] برحاله د امر بالمعروف وزارت او په ځايي کچه رياستونو يې د ښځو د چارو په پخواني وزارت پورې اړوند تاسیسات نیولي، کوم چې د برحاله چارواکو له خوا منحل شوی.[8]

له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې د طالبانو د پخوانۍ اداري پرمهال ورته یوې اداري شتون درلود. دغه مهال يې مختلف محدودونکي تدابیر وضع کړي وو، چې ځینی يې د اوس مهال هغو سره ورته وو. د مثال په ډول، ښځو ته ویل شوي و چې له کورونو و نه وځي او که چیرې وځي هم، هغوی باید حجاب مراعات کړي او په قانوني ډول پېژندل شوي د نارینه خپلوانو له خوا بدرګه شي. نارينه وو باید ږیرې پرېښې وای او "په انګریزي یا امریکایي سټایل وېښتان جوړ کړی نه وي". موسیقي، پتنګ الوځونه او د انسانانو او حیوانانو عکسونه/انځورونه منع وو.[9]

داسې برېښي چې اوسنی برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او په ځايي کچه رياستونه يې د پالیسي وضع کولو، سلا مشورو، څارنې، د شکایتونو مدیریت او د انفاذ په چارو کې برخه اخلي.[10] په داسې حال کې چې د دغه برحاله وزارت د کار محدوده پراخه ده، چارې يې د برحاله چارواکو تعبیر پورې، په ترتیب سره د چلند اصلاح او څه معروفات او څه منکرات دي، تړلې او متمرکزې دي. د دغه وزارت کار پر ښځو له توپیري او نا متناسب اغیز سره په افغانستان کې د میشتو خلکو د ورځني ژوند مختلف اړخونه اغیزمنوي.

## برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ماموریت

د ۲۰۲۳ کال د نومبر پر ۸ نېټه د شکایتونو د اورېدلو په اړه قانون د یو فرمان د مخې توشیح شو تر څو د نوموړي برحاله وزارت د شکایتونو د اوریدلو چاره او پروسیجر معرفي کړي.[11] سربیره پر دې، دوه لایحې په ۲۰۲۳ کال کې صادرې شوې چې د برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت کارکوونکو ته د کارونو د ترسره کولو د څرنګوالي په اړه لارښوونې وړاندې کوي.[12] د راپورونو د مخې د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت قانون د یو فرمان له مخې د طالبانو د مشر له لورې د ۲۰۲۴کال په اوایلو کې توشیح شو (تر اوسه خپور شوی نه دی)، چې د برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت مسؤلیتونه او صلاحیتونه تعریف کوي.[13]

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت هدف لکه څرنګه چې د ماموریت او لید لوري په برخه کې په ډاګه شوی، د ټولنې[14] اصلاح کول دي چې خلک د معیاري ارزښتونو یوه داسې ټولګه رعایت کړي چې د طالبانو له لیدلوري سره سم له "اسلامي امارت" سره په تطابق کې وي. د دغه هدف د ترلاسه کولو په پار، دغه برحاله وزارت عامو خلکو ته د لارښوونو د خپرولو او د خپلو ولایتي رياستونو له لارې د دغو لارښوونو په تطبیقولو

[7] کلارک بي. لومباردی او اندریو ایف. مارچ، د سولې کارونه: د مشروع اسلامي حکومتولۍ په اړه د افغان طالبانو نظرونه: اطمینانونه، ابهامات او د جوړجاړي ساحې، (۲۰۲۲)، ۱۱ مخ. پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://www.usip.org/sites/default/files/2022-09/pw_182-afghan_taliban_views_on_legitimate_islamic_governance.pdf (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).
[8] یوناما، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ نېټې پورې په افغانستان کې بشري حقونه، ۲۲ مخ، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).
[9] په دغې موده کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر له خوا د صادر شویو احکامو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه نهايي راپور وګورئ چې د ښاغلي چونګ هاین پیک، ځانګړي راپور ورکوونکي له خوا د بشري حقونو د کمیسیون له E/CN.۴/۱۹۹۷/۵۹، ۱۹۹۶/۷۵، ۲۰ فبروري ۱۹۹۷، پرېکړه لیک، مخونه ۳۲-۳۶، سره سم وړاندې شوی.
[۱۰] یوناما، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ نېټې پورې په افغانستان کې بشري حقونه، ۲۲ مخ، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه لیدل شوې).
[۱۱]د طالبانو مشر، "د شکایتونو اوریدلو قانون اړوند فرمان"،رسمي جریده، د صدور شمیره (۱۴۴۴) مارچ ۲۰۲۴. د لاس رسی وړ: https://mopvpe.gov.af/dr/media/16 (پښتو) او http://old.moj.gov.af/Content/files/OfficialGazette/01401/OG_01444.pdf (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).
[۱۲] "د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت لایحه" او "شکایتونو اوریدلو لایحه"، ۲۰۲۳ کال. د لاسرسي وړ: https://mopvpe.gov.af/ps/%D9%84%D9%88%D8%A7%DB%8C%D8%AD (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).
[۱۳]د دې راپور تر خپریدو پورې، قانون د برحاله چارواکو له لوری خپور شوی نه دی. د قانون د تصوب په اړه یوناما د بشر حقونو ځانګې په شفاهی ډول د برحاله مسؤلینو له لورې مطلع شوې ده.
[۱۴] دغه چاره د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویب پاڼې د "ماموریت او لید لوري" په برخه کې لیکل شوې. "د ټولنې اصلاحات: د دغه وزارت د اصلي اهدافو د تطبیقولو لپاره له علماؤ، د جوماتو له مبلغانو، د پوهنتون له استادانو، قومي مشرانو، د ښاروالۍ له استازو، سوداګرو، د هوټلونو او پارکونو له څښتنانو او د افغان ټولنې له بانفوذه بنسټونو سره ناستې تنظیموي." (له دري څخه ژباړه). د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یاد وزارت انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://mopvpe.gov.af/dr/ماموریت-و-دیدگاه (دري) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه لیدل شوې).

سره له اسلامي قانون څخه د برحاله چارواکو د تعبیر پر اساس امر بالمعروف او نهي عن المنکر ترسره کوي. وزارت همدارنګه د برحاله اداري او خلکو ترمنځ د طالبانو د مشر مشخص فرمانونه تطبیقوي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ته دغه راز د شکایتونو د حل دنده سپارل شوې په کومه کې چې د برحاله چارواکو پر ضد د عامو خلکو له خوا د ترسره شویو شکایتونو په اړه منځګړیتوب، تحقیق او ارجاع شامل دي.[۱۵]

د یادونې وړ ده چې د ۲۰۲۳ کال له مارچ راهیسې د برحاله لوي څارنوالۍ نوم بدل شو او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت پر لوی ریاست[۱۶] واوښته. دغه برحاله اداره د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ګډون د ټولو برحاله وزارتونو له خوا د طالبانو د مشر له خوا د خپرو شویو فرمانونو، حکمونو او لارښوونو تطبیق څاري. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پر ماموریت د دغه کار اغیز لا تر اوسه مشهود نه دی.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خپل تاسیس راهیسې په دوامدار ډول د خپل مسئولیت محدوده پراخوي. د موجوده پالیسیو د رعایت پر شدیدې څارنې سربېره، نوموړي وزارت نوې لارښوونې معرفي کړې او د تطبیق نویو ساحو ته يې خپلې چارې پراخې کړې.

## د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا خپرې شوې کلیدي لارښونې او د هغوی تطبیق

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د برحاله چارواکو له اسلامي قانون څخه د تفسیر په اساس د مکلفیتونو او ممانعتونو اړوند لارښوونې صادرې کړې. دغه لارښوونې په مختلفو شکلونو خپرې شوې لکه لیکلي امرونه، د مطبوعاتي مرکو پر مهال خبرتیاوې، په خواله رسنیو کې خپرونې، پیغامونه یا د جمعې د لمانځه خطبه کې د امامانو له لارې یا د ټولنې د مشرانو له خوا په جماعت لمونځونو کی یا د خلکو راټولیدنو کی، یا په کوڅو کې د ګرځنده ټیمونو له خوا د لاوډسپیکرونو له لارې. په ځینو مواردو کې ولایتي برحاله ریاستونو د خلکو لپاره یوازې شفاهي لارښوونې برابرې کړې چې د قانوني اطمینان او وضاحت له پلوه محدودې ګڼل کېږي، چې د ولایتونو یا د برحاله منسوبینو ترمنځ په مختلف ډول تعبیر کیدای شي کوم څه چې تطبیق يې د وړاندوینې وړ نه وي.

## پر رسنیو محدودیتونه

یو له لومړنیو محدودیتونو څخه چې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا وضع شوی په فلمونو کې د ښځو د راڅرګندېدو او همدارنګه د هغو فلمونو د خپریدو منع کول و چې بهرني کلتور منعکسوي او طنز لري چې د برحاله چارواکو له خوا توهین ګڼل کېږي. دغه خبرتیا د یوه مطبوعاتي کنفرانس پرمهال د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د سرپرست وزیر له خوا د ۲۰۲۱ کال د نومبر پر ۲۱ نېټه ورکړل شوه.[۱۷] لیکلې لارښوونې د رسنیو له خوا په انلاین ډول خپرې شوې. لارښوونې په رسنیو کې له کار کوونکو ښځینه ژورنالستانو د اسلامي حجاب اغوستلو غوښتنه کوله. همدارنګه يې د اسلامي اصولو او افغان ارزښتونو خلاف فلمونه او هغه ویډیو ګانې او فلمونه منع کول په کومو کې چې نارینه خپل ځانونه ښکاره کوي. په ځايي کچه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونو په رسنیو کې پر ښځو لا زیات محدودیتونه وضع کړې. د مثال په ډول په کونړ ولایت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا د راډیو سټیشنونو ته لارښوونه شوې چې له ښځینه اړیکه نیوونکو له ځوابولو یا د ښځینه مجریانو د غږ د خپرولو څخه ډډه وکړي.

د برحاله چارواکو له خوا د وړاندې شوي ځواب سره سم، پر رسنیو د محدودیتونو په اړه، یوازې موسیقي او مبتذل فلمونه منع شوي. په کونړ ولایت کې، پر ښځو ممنوعیت نشته چې تیلفون وکاروي؛ خو د ښځو له خوا راډیو ته زنګ وهل د افغاني او اسلامي ارزښتونه خلاف دی (ضمیمه وګورئ).

## محرم (نارینه سرپرست)

د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر پر ۳۱ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لارښوونې خپرې کړې چې له ښځو څخه غوښتنه کوي چې کله له خپل کور څخه تر ۷۸ کیلو مترو د زیات واټن لپاره سفر کوي، د محرم (نارینه سرپرست) له خوا باید بدرګه شي.

[۱۵] برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت "ماموریت او لید لوري". انټرنیټ پاڼه: https://www.mopvpe.gov.af/en/node/395 (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).

[۱۶] د طالبانو د مشر ، "د لوېي څارنوالۍ څخه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست ته د نامه د بدلون په هکله" د ۲۰۲۳ کال د مې د ۷ نېټې ۳۵ شمېره فرمان وګورئ، کوم چې د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۱۱ نېټه په ۱۴۳۴ شمېره رسمي جریده کې خپور شوی (پښتو او دري).

[۱۷] د مطبوعاتي کنفرانس په اړه راپور"دستورالعمل تازه طالبان زنان را از حضور در فیلم‌ها و نمایشنامه‌های تلویزیونی منع کرد" او د لارښوونې کاپي د بی بی سي پر دغې انټرنیټ پاڼې وګورئ https://www.bbc.com/persian/afghanistan-59365818. د ۲۰۲۱ کال د نومبر ۲۱، (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ کتل شوی).

دغه لارښوونې د ټولنيزو رسنيو له لارې اعلان شوې.[۱۸] د برحاله چارواکو له خوا يوازې د يوې ښځې نږدې نارينه خپلوان محرم ګڼل کيږي؛ چې په دې کې عمدتا ميړه، پلار، نيکه، ورور، بالغ زوی، تره او وراره/خوری شامل دي.

يوناما د بشر حقونو څانګې داسې موارد مستند کړي چېرې چې د محرم شرط له ۷۸ کيلو مترو واټن څخه د کم سفر لپاره تطبيق شوی کوم څه چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خپلو رسمي لارښوونو سره په ټکر کې ګڼل کېږي. د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۲ کال د نومبر پر ۱۲ نېټه په ننګرهار ولايت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست ښځو ته اخطار ورکړ چې هغوی له محرم پرته روغتيايي کلينيک ته نه شي حاضريدای. دغه شرط بيا يوه مياشت وروسته لغوه شو.
- د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۲۹ نېټه په کندهار ولايت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست برحاله د عامې روغتيا له رياست څخه غوښتنه وکړه چې په ولايت کې ټولو ښځينه روغتيايي کارمندانو ته لارښوونه وکړي چې کار ته يوازې په هغه صورت کې لاړې شي کله چې د يوه محرم له خوا بدرګه شوې وي. دغه کار د سفر واټن په پام کې نيولو پرته دی.

د دغې قضيې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، له ۷۸ کيلو متر څخه د کم واټن سفر لپاره، ښځې اړتيا نه لري چې د محرم له خوا بدرګه شي. موټروانانو ته يوازې د بې حجابه ښځو د نه پورته کولو توصيه شوې. (ضميمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۱۰ نېټه په بلخ ولايت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د ټکسي او رکشا چلوونکو ته لارښوونه وکړه چې له مناسب حجاب يا محرم پرته ښځې پورته نه کړي، په ښار د ننه له ۷۸ کيلو مترو څخه د کم واټن په ګډون.

د دغې قضيې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، موټروانانو ته يې له محرمه ښځو د نه پورته کولو خبره نه ده شوې بلکې د بې حجابه ښځو د نه پورته کولو توصيه ورته شوې (ضميمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر پر ۱ نېټه په خوست ولايت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د ګرځنده لاوډسپيکر له لارې اعلان وکړ چې له محرم پرته ښځې اجازه نه لري چې سودا واخلي.

د دغې قضيې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، ښځې له خريدارۍ نه دي منع شوې البته د نرانو او ښځو اختلاط منع شوی دی (ضميمه وګورئ).

## حجاب

د ۲۰۲۲ کال د مې پر ۷ نېټه د يوه مطبوعاتي کنفرانس پرمهال، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د اسلامي حجاب (څرنګه چې د برحاله چارواکو له خوا تعبير شوی) مراعاتولو په اړه يوه لارښوونه خپره کړه، چې حکم يې د نوموړي برحاله وزارت پر ويب سايت او خواله رسنيو خپور شو.[۱۹] د دغې نوي حکم په اړه د پوهاوي د لوړولو په پار بلبورډونه او بينرونه هم نصب او وځړول شو.[۲۰] دغه حکم په ډاګه کوي چې حجاب کيدای شي برقه (چادري)، تور رنګ حجاب اوسي چې مخ پټوي، يا هغه ټکري چې کليوالو سيمو کې اغوستل کيږي.[۲۱] په حقيقت کې، نوموړی حکم په ډاګه کوي چې له کور څخه له کوم لامل پرته نه وتل د يوې ښځې لپاره د حجاب د مراعاتولو تر ټولو لومړی او غوره شکل دی. حکم دغه راز توضيح کوي چې که چېرې يوه ښځه له دغې لارښوونې سرغړونه وکړي، برحاله چارواکي لومړی د هغې نارينه سرپرست ته د سرغړونې په اړه خبر ورکوي.

[۱۸] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټويټر)، ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۱،مازديګر ۴:۴۵ بجې. دلته د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۱۹] برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، "طرزالعمل" [ويب سايت] (پښتو). د لاسرسي وړ: https://mopvpe.gov.af/ps/%DA%A9%DA%93%D9%86%D9%84%D8%A7%D8%B1%D9%87 همدارنګه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټويټر) وګورئ، د ۲۰۲۲ کال د مې ۷، د غرمې ۲:۴۳ بجې، دلته د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1522882293718818816?s=20&t=sshqCD9cwGCRkJbt8HL3LQ (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۲۰] په يوه مورد کې، د ۲۰۲۲ کال په جون مياشت کې په کندهار کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له خوا په يوه بينر کې داسې ليکل شوي وو: "يوه مسلمانه ښځه څوک چې په بشپړ ډول اسلامي حجاب نه مراعاتوي د يوه حيوان په څېر ښکاري. تنګې، لنډې او نرۍ جامې د حجاب د مراعاتولو په معنا نه ده. مسلماني خورې، حجاب د الله واجب امر دی، هغه د محدوديت په څير مه معرفي کوئ". (له پښتو څخه ژباړه). د فرانس ۲۴ راپورونه وګورئ: ""هغه ښځې چې حجاب نه اغوندي، هڅه کوي چې د حيواناتو په څير ښکاره شي، د طالبانو پوسټرونه" ۱۶ جون ۲۰۲۲، دلته د لاس رسي وړ ده: https://www.france24.com/en/live-news/20220616-women-not-wearing-hijab-trying-to-look-like-animals-say-taliban-posters (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۲۱] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټويټر)، د ۲۰۲۲ کال د مې ۱۰، د غرمې ۷:۱۲ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1524037222399369217?t=oMIxjpN_O-O-WOvYA0pBxA&s=19 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

د دویم ځل سرغړونې په صورت کې، د ښځې نارینه سرپرست به برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ته احضارېږي. د دریم ځل سرغړونې په صورت کې به نارینه سرپرست تر درې ورځو پورې د بند له سزا سره مخ کېږي. د څلورم ځل سرغړونې په صورت کې به نارینه سرپرست د سزا په پار محکمې ته معرفي کېږي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونه په مکرر ډول د حجاب د حکم رعایتول څاري. په دې کې په ښارونو کې د چیک پاینټونو [پلټنځایونو] جوړول شامل دي. یوناما داسې موارد مستند کړي چېرې چې تطبیق، له هغې طریقې متفاوت دی چې په حکم کې یې یادونه شوې، او د هغو میرمنو فزیکي مجازات په کې شامل دي چې د برحاله چارواکو په وینا، له لارښوونې سره سم عمل نه کوي.

په ځینو مثالونو کې لاندې موارد شامل دي:

- د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۲ نېټه په هرات ښار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست هغو ښځو ته چې د حجاب حکم په نه مراعاتولو تورنې وې، له عامه ترانسپورت څخه د کښته کېدو امر وکړ.

  د دغې قضیې په اړه د برحاله چارواکو له خوا ورکړل شوي ځواب سره سم، د حجاب د نه رعایتولو له امله ښځې له موټرو څخه نه دي ښکته شوې بلکې موټروانونو ته د بې حجابه ښځو د نه پورته کولو توصیه شوې (ضمیمه وګورئ).

- ۲۰۲۳ کال د ډسمبر د وروستیو او د ۲۰۲۴ کال د جنوري وروستیو تر منځ، په کابل ولایت، کابل ښار کې، برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست او برحاله پولیسو د کمپاین د اجراء یوه سلسله مستند شوې چې یو زیات شمیر نجونې او ښځې د "مناسب حجاب نه اغوستلو" دپاره نیول شوې وی. ډېرې ښځې وروسته د څو ساعتونو څخه، د هغوی د محرم له لورې د تضمین په لاسلیک کولو سره چې راتلونکې کې به د فرمان رعایت کوي، خوشې شوی. سربیره پر دې، د یوناما د بشر د حقونو څانګې همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې ناوړه چلند پیښې: د څو ورځو دپاره توقیف، پرته له ارتباطه توقیف، او د ښځینه خپلوانو د خوشې کولو دپاره د کورنیو څخه د پیسو غوښتل، مستند کړې. د برحاله چارواکو ویاند د ښځو سره د حجاب د رعایت اړوند ناوړه چلند، بې اساسه وباله.[۲۲] برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د رسنیو راپور ته په غبرګون کې چې ښځې د برحاله چارواکو موټرو ته خېژول شوي ویلې چې هغوی ګدایګرې وې چې د بایومتریک د ترسره کولو او مرستې د ترلاسه کولو دپاره ثبت شوې.[۲۳]

## په پارکونو، جیمونو او عامه حمامونو کې د ښځو بندیز

د ۲۰۲۲ کال د نومبر پر ۹ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارتویاند رسنیو ته خبر ورکړ چې تر دې وروسته ښځې اجازه نه لري چې پارکونه، جیمونه او عامه حمامونه وکاروي، او د دغه اقدام تر شا یې اصلي محرک د حجاب حکم نه مراعاتول په ډاګه کړ.[۲۴] دغې خبرتیا د ۲۰۲۲ کال د مارچ د ۲۷ نېټې هغه لارښوونې بې اعتباره کړې چې نارینه او ښځو ته یې اجازه ورکړې وه چې د اونۍ په مختلفو ورځو کې پارکونه وکاروي.[۲۵] د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۱۶ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت اعلان وکړ چې ښځې د بند امیر ملي پارک له لیدنې څخه منع دي.[۲۶]

د دغې موضوع په اړه د برحاله چارواکو له خوا وړاندې شوي ځواب سره سم، ښځې له پارکونو څخه نه دي منع شوې(ضمیمه وګورئ).

د ښځو له خوا د عامه حمامونو پر کارونې بندیز په ځانګړې ډول هغه ډله خلک اغیزمن کړي ځوک چې د ژمي پرمهال د ګرمو اوبو لپاره پر عامه حمامونو متکي دي. د ۲۰۲۳ کال په جنوري کې د هرات ولایت په هرات ښار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د یوه عامه حمام څښتن له دې امله توقیف او جریمه کړ، چې ښځو ته یې د

[۲۲] ملی رادیو او تلویزیون - پښتو [@rtapashto], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۱ جنوري ۲۰۲۴، د شپې ۹:۰۳بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/rtapashto/status/1745484067385057523 (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې).
[۲۳] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۸ جنوري ۲۰۲۴، د غرمې ۱۲:۰۹ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1744262587745718613 (پښتو) او https://twitter.com/MOPVPE1/status/1744262785133896008 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۲۴] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۰ نومبر ۲۰۲۲، د شپې ۱۰:۴۰ بجې دلته د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1590768823971368960 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
همدارنګه پارکونو، سپورت سالونونو او عامه حمامونو ته په تګ باندې بندیز، د یوناما د بشر حقونو څانګې ته د برحاله امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت ویاند، د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر ۶ نېټې ناسته کې تائید کړه.
[۲۵] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۲۷ مارچ ۲۰۲۲، د سهار ۹:۳۶ بجې دلته د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1507947182288220162 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۲۶] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۲۷ اګست ۲۰۲۳، د سهار ۹:۱۵ بجې دلته د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1695658700755620006 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

حمام کارونې اجازه ورکړې وه. عامه حمامونه یوازې د هغو ځایي اوسیدونکو په غوښتنې پرانستل شوي وو چا چې به د سختې سړې هوا په پایله کې د کنګل شویو پایپونو له امله اوبو ته لاس رسی نه درلود.

د دغې موضوع په اړه د برحاله چارواکو له خوا ورکړل شوي ځواب سره سم، د حمامونو مالکان نه دي جریمه شوي بلکې هغوی ته توصیه شوې چې حمامونه بند کړي (ضمیمه وګورئ).

## د ښځو په مشرۍ د کاروبارونو لپاره خنډونه

په کاروبار کې د ښځو لپاره د برحاله چارواکو له خوا د ملاتړ د بیا بیا یادې ترځنګ،[27] د ۲۰۲۲ کال له سپتمبر راهیسې یوناما د بشر حقونو ځانګې داسې قضیې مستندې کړې چیرې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست منسوبینو په خپلسرې ډول د ښځو له خوا پر مخ وړل کیدونکو کاروبارونو د تړلو امر کړی.

- د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې په کابل ښار کې مشخصو ښځینه نانوایانو برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له منسوبینو څخه د تړلو شفاهي امرونه ترلاسه کړي. له دې سره سره ځینو هغو بې خپل فعالیت جاری ساتلی. د ۲۰۲۳ کال د جنورې پر ۱۱ نېټه له یوناما د بشر حقونو ځانګې سره د یوې ناستې پرمهال، د کابل د ښاري سیمې لپاره برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ښځو ته د خپلو دوکانونو د تړلو امر رد کړ.[28]
- د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې، د کندهار ولایت په یوه پلورنځي کې د ښځو لپاره ځانګړې شوی پوړ (چې هیټوال او پیرودونکې دواړه یې تر ډیره ښځې وې) د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا وتړل شو. د ۲۰۲۳ کال جنورې کې، په کندهار کې د ښځو په مشرۍ د کاروبارونو مالکانو ته د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست او امامانو له خوا په شفاهي ډول امر شوی چې ښځینه دوکانداران پر نارینه هغو بدل کړي یا به یې دوکانونه تړل کېږي، ویل یې چې ښځې د نارینه پیرودونکو له خدمت کولو منع دي.

د دغې قضیې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په کندهار ولایت کې د ښځو په مشرۍ کاروبارونه نه دي بند شوي (ضمیمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۲۵ نېټه یو فرمان صادر شو، د طالبانو د مشر هغه شفاهي لارښوونه په ډاګه کوي چې ټول سینګارتونونه دې د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۲۵ پورې وتړل شي. لامل یې د زوم پر کورنۍ د واده د زیاتو لګښتونو مخنیوی ښودل شوی. سربیره پر دی د سینګار یو شمېر مشخصې طریقې د برحاله چارواکو له خوا "غیر اسلامي" ګڼل کېږي.[29] سینګارتونونه زیاتره د ښځو وو او د هغوی له خوا پرمخ وړل کېدل. د راپورونو له مخې زیاتره سینګارتونونه د ضرب الاجل په پوره کېدو سره تړل شوي. په کابل او بامیانو کې، یو شمېر موارد ثبت شوي چېرې چې سینګارتونونه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا په زور له دې امله تړل شوي چې د ضرب الاجل تر پوره کېدو وروسته هم پرانیستي وو یا په بشپړ ډول نه وو تخلیه شوي.

په بغلان او پکتیا کې که څه هم د ښځو دوکانونو ته په صریح ډول د تړلو نه و ویل شوي، خو هغوي ته اخطار ورکړل شوی چې د حجاب او محرم له اصولو سرغړونې د دوکانونو د تړل کیدو لامل کیدای شي. د ۲۰۲۳ کال په جنورۍ کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت خلکو ته په ډاګه کړه چې بلخ او بغلان کې د ښځو دوکانونو تړل رښتیا نه دي.[30]

[۲۷]په مختلفو مواردو کې مختلفو برحاله وزارتونو د ښځو د کاروبارونو لپاره خپل ملاتړ په ډاګه کړی. د مثال په ډول د ۲۰۲۲ کال د نومبر پر ۵ نېټه، برحاله د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د ښځو د کاروبارونو لپاره ملاتړ په ډاګه کړ او د ښځو لپاره یې د سوداګرۍ او لاسي صنایعو خونه تاسیس کړه. منبع: د افغانستان سوداګرۍ او صنایعو وزارت، [@MoICAfghanistan], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۵ نومبر ۲۰۲۲، د شپې ۹:۳۴ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی https://twitter.com/MoICAfghanistan/status/1588940308557205504?t=LDKBQC4IRcb_v9FLxuv0rQ&s=08 (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ کتل شوی). د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۷ نېټه، د برحاله چارواکو ویاند په ډاګه کړه چې په ۲۰۲۳ کال کې چې له ۷۲۶۳ کاري جوازونو څخه ۱۰۰۰ هغه یې د ښځو لپاره برابر شوي. منبع: ذبیح الله (..ذبیح الله م) [@Zabehulah_M33], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۲۷ جولای ۲۰۲۳، د غرمې ۱۲:۱۰ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1684468740392632320 (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ کتل شوی).

[۲۸] په کابل ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ریاست دوه اداري دي، یوه یې د ښاري سیمې او بله هغه یې د کلیوالي سیمو مسؤوله ده.

[۲۹] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۶ جولای ۲۰۲۳، د مازدیګر ۳:۰۰ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1676901396594171904 (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ لیدل شوی).

[۳۰] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند پر خپله اکس پاڼه (پخوانی ټویټر) په یوه ویډیو کی په ډاګه کړه چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا په بلخ کې د ښځو د دوکانونو او په بغلان کې د سینګارتونونو د تړلو راپورونه رښتیا نه دي. د محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۱ جنورې ۲۰۲۳، د ماسپښین ۱:۲۵ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/SadiqAkif/status/1613097186689949697 (پښتو) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ لیدل شوی). همدارنګه د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند ټویټ هم دی موضوع په اړه وګورئ، د محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۱ جنورې ۲۰۲۳، سهار ۸:۵۶ بجې. د لاسرسي وړ: https://twitter.com/SadiqAkif/status/1613029656457781250 (انګریزي) (د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۱۹ لیدل شوی).

د بلخ ولایت په مزار شریف ښار کې، د ۲۰۲۳ کال د جنوري پر ۵ نېټه له ابتدايي امر نه وروسته چې ښځينه دوکاندارانو ته يې په سيټي واک پلورنځي [شاپنګ سنټر] کې د هغوی د دوکانونو د تړلو لارښوونه کوله، بيا وروسته ښځينه دوکاندارانو ته وويل شول چې د ښځو لپاره يوه نوي مارکيټ ته خپل موقعيت بدل کړي. د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۱۴ نېټه، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست په ګډون د برحاله چارواکو له خوا د ښځو نوي مارکيټ (نور مارکيټ) پرانيستل شو. نوموړی مارکيټ په شپږو پوړونو کې ۵۰۰ دوکانونه لري. د مارکيټ په تل پوړ او لومړي پوړ کې د نارينه وو دپاره دوکانونه لري. پورتني درې پوړونه د ښځو دپاره دوکانونه لري، چې ځينې يې په دخولي دروازه کې لوحې لري چې نارينه دوکانونو ته له ننوتلو څخه منع کوي. له سيټي واک مارکيټ څخه شا و خوا د ښځو ۱۲۰ دوکانونه دغه ځای ته ليږدول شوي. په هر صورت، دغه مارکيټ ته تر ليږد څو مياشتې وروسته، اتو ښځينه دوکاندارانو په نور مارکيټ کې ناکافي کار له امله مختلفو ځايونو ته خپل دوکانونه ليږدولي. د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست دغو ښځينه دوکاندارانو ته په شفاهي ډول خبر ورکړی چې يا دې بېرته نور مارکيټ ته ستانې شي او يا دې خپل دوکانونه وتړي. د ۲۰۲۳ کال په ډسمبر کې، ټول نور مارکيټ (د خديجة الکبری مارکيټ په نامه ونومول شو) د مالياتو د باقيداری له امله وتړل شو. هغه بيرته د ۲۰۲۴ کال جنوري کې پرانستل شو، د ښځو په مشری يواځې څو دوکانونه بيرته راستانه او خپل فعاليتونه يې بيا پيل کړل.

## د اميندوارۍ د مخنيوی درملو ته لاس رسی

يوناما د بشر حقونو ځانګې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د کارمندانو له خوا د اميندوارۍ مخنيوي ته د لاس رسي په اړه ضد او نقيض لارښوونې مستندې کړې. د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۱۸ نېټه برحاله د عامې روغتيا وزارت ویاند په ډاګه کړه چې د اميندوارۍ د مخنيوی درملو ته په لاس رسي بانديز کوم محدوديت نشته![31] له دې سره سره، د ۲۰۲۳ کال د فبروري او مارچ ترمنځ په بلخ او ميدان وردګ ولايتونو کې، يوناما د بشر حقونو ځانګې داسې موارد ثبت کړي چيرې چې ځايي روغتيايي مرکزونو ته برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له خوا لارښوونه شوې وه چې ښځو ته د اميندوارۍ د کنټرول درمل برابر نه کړي. د راپورونو د مخې دغه محدوديت بيا څو مياشتې وروسته لرې شو او د دغو ولايتونو په روغتيايي مرکزونو کې د اميندوارۍ د مخنيوي درمل توصيه او پلورل کېدل.

د دغې موضوع په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په دغو دوو ولايتونو کې د اميندوارۍ د مخنيوي درمل نه دي منع شوي (ضميمه وګورئ).

## د افرادو ترمنځ پر خپلمنځي اړيکو محدوديتونه

د ماموريت د يوې برخې په توګه يې د ټولنې د اصلاح په موخه برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، ډول ډول لارښوونې خپرې کړې چې د نارينه او ښځو ترمنځ خپلمنځي اړيکې اداره کوي. په دې کې ګڼ شمېر اقدامات شامل دي چې په ورځني ژوند کې د ښځو او نارينه وو ترمنځ اختلاط راکم کړي. په حقيقت کې د ښځو او نارينه وو ترمنځ اختلاط د ښځو لپاره د ځينو نورو محدوديتونو د لامل په څېر په صريح ډول په ګوته شوي، لکه د ښځو له خوا د پارکونو، جيمونو او عامه حمامونو پر کارونې بنديز، او د ښځو په مشرۍ د کاروبارونو تړل.

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۳ کال د جنوري او اګست ترمنځ په بلخ او کابل ولايتونو کې، د يوناما بشري حقونو ځانګې ګڼ شمېر داسې موارد مستند کړي چېرې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د منسوبينو له خوا له جوړو څخه په عامه ځايونو کې د هغوی د واده يا د کورنۍ اړيکې د ثبوت ښودلو غوښتنه شوې.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په بلخ ولايت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له ښځې او مېړه څخه د نکاح خط غوښتل، رد کړل (ضميمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال په فبروري کې د باميان ولايت باميان ښار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر

[31] برحاله د عامه روغتيا وياند [SharafatAmar@], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۸ فبروري ۲۰۲۳، د شپې ۱۰:۲۶ بجې. دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/SharafatAmar/status/1627004114038099969?s=20 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

ریاست په مؤقت ډول دري مختلف خصوصي ښوونیز مرکزونه له دې امله وتړل چې نارینه او ښځینه زده کوونکو په ګډه زده کړې کولې او په ګډه یې په مراسمو کې ګډون کاوه.

- د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې په پروان ولایت کې نارینه خیاطانو ته برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا ویل شوي چې هغوي اجازه نه لري چې د ښځو د کالیو اندازه واخلي. ښځو ته ویل شوي چې هغوي باید خپله اندازه په کور کې واخلي او بیا یې خیاط ته ورکړي.

## د نارینه وو د ظاهر په اړه مقررات

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د نارینه وو د مناسب ظاهر [صورت] په اړه یو شمیر لارښوونې خپرې کړې. نوموړي برحاله وزارت سلمانانو ته لارښوونه کړې چې د نارینه وو ږیرې لنډې نه کړي او د هغوي وېښتان په "غربي سټایل" جوړ نه کړي. په دی وروستیو کې، د ۲۰۲۴ کال د جنوری په ۲۴ نېټه، هرات ولایت کې، د برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست رئیس په یو ویډیویي کلیپ کې وویل چې سلمانان باید د مراجعینو ږیرې ونه خرېي او د یوې قبضې یې لنډې نه کړي او همدارنګه باید مراجعینو ته وېښتان په "غربي سټایل" جوړ نه کړي.[۳۲] که څه هم دا یې په ډاګه کړې چې دغه لارښوونه د سپارښتنې ماهیت[۳۳] لري، د هغو سلمانانو چا چې د خپلو مشتریانو ږیرې خرییلې او دغه راز د هغو نارینه وو چې د ظاهر په اړه د لارښوونو په مراعاتولو کې د ادعاوو له مخې پاتې راغلي وو، د نیونو، توقیفونو او ناوړه چلند په ګډون په زور د دغو لارښونو د پلې کولو پېښې ثبتې شوي.

په ځینو مثالونو کې لاندې موارد شامل دي:

- د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۷ نېټه په بدخشان ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست څو کسان د خپلو ږیرو د خرېیلو په تور د یو څو ساعتونو لپاره بندیان کړي وو.
- د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر پر ۷ نېټه په ننګرهار ولایت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ۲۰ سلمانیانې د یوې شپې دپاره وتړلې او دوه سلمانان یې د دوه شپو لپاره د ږیرو خریلو او لنډولو، او په "غربي سټایل" د وېښتانو جوړولو په تور بندیان کړل. بیاځلي د دې خدماتو نه وړاندې کولو په تضمین سره هغوي خوشې شول.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په بدخشان ولایت کې، سلمانان د توصیې لپاره راغوښتل شوي، بندیان شوي نه دي؛ په ننګرهار ولایت کې، سلمانیانې بندی شوي، خو سلمانان نه دي بندیان شوي. سره له دې چې یوناما په هرات ولایت کې د نیونې کوم مثال نه دی شامل کړی، خو برحاله چارواکو ځواب ورکړې چې د سلمانیو مالکان نه دي بندیان شوي بلکې د توصیې لپاره راغوښتل شوي (ضمیمه وګورئ).

## د مذهبي اعمالو په اړه مقررات

نارینه وو ته لارښوونه شوې چې په جوماتونو کې په جماعت لمونځ اداء کړي. په دغه کار کې پاتې راتلل ځینې وختونه د سختو سزا ګانو لامل شوي لکه جریمه کول، د کاروبار ځنډول او بدني سزاګانې.

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۲۵ نېټه د کونړ ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارمندانو په عام محضر کې یو شخص په دورو وواهه. دغه هیتوال په جومات کې د ماسپښین لمانځه پر نه اداء کولو تورن و.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، تطبیق شوې بدني سزاګانې محکمې له خوا ثابتې شوي (ضمیمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال مې میاشت کی د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست لیدل شوی چې د ادعاوو له مخې یې

[۳۲] آریانا نیوز [@ArianaNews], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، د ۲۴ جنوري ۲۰۲۴، ۸:۰۳ وروسته له غرمې، د لاس رسي وړ: https://twitter.com/ArianaNews_/status/1750180058562797680. (پښتو) (د ۲۰۲۴د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۳۳] برحاله د امر المعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویاند په X پاڼه (پخوانی ټویټر) یوې ویډیویي مرکه کې هغه په ډاګه کړې سلمانانو ته د دې پالیسي چې د مشتریانو ږیرې او د هغوي وېښتان په غربي سټایل جوړ نه کړي یو مشورتي ماهیت لري نه بندیز. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۰ نومبر ۲۰۲۲، د ماخوستن ۱۰:۴۰ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1590768823971368960 (پښتو) (د ۲۰۲۴د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

په مختلفو جوماتونو کې حاضرۍ جوړې کړې ځو هغه کسان په ګوته کړي چې لمانځه ته نه حاضرېږي. له دې سره سره، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په جوماتونو کې د حاضرۍ اخیستل رد کړي.[۳۴]

- د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر پر ۲۶ نېټه، بلخ ولایت، دهدادي ولسوالی کې، د برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست او برحاله د ولسوال دفتر اړوند مسؤلینو لسګونه نارینه کسان په جومات کې په جماعت سره د لمونځ نه اداء کولو دپاره توقیف کړل. هغوي وروسته د درې ساعتونو څخه خوشې شول.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه افراد دوه نیم کاله جومات ته نه حاضریدل، د توصیې نه وروسته بندیان شول ، (ضمیمه وګورئ).

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونه لیدل شوي چې د ۲۰۲۳ کال د روژې میاشت پورې مشخص ځایي اقدامات یې تطبیق کړي. په دې کې د روژې په اوږدو کې د خوړو پر پلور بندیز (په دایکندي ولایت کې)، د دې ډاډمنول چې دوکانونه د لمانځه پرمهال تړل شوي (په بلخ او کندوز  ولایتونو کې)، او اوسیدونکو ته په جوماتونو کې د تراویح لمونځ د اداء کولو امر (په بدخشان او تخار  ولایتونو کې) شامل وو.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په بلخ ولایت کې، د مکررو توصیو سره سره بیا هم دوکانداران د جمع لمانځه ته نه حاضریدل دوکانونه یې د څو ساعتونو لپاره وتړل شو؛ په کندوز ولایت کې، دوکانونه د ماسخوتن او جمعې د لمانځه لپاره بند شوي دي (ضمیمه وګورئ).

د دغه تطبیق په ځینو مثالونو کې راتلونکي موارد شامل دي:

- د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۲۱ نېټه د هرات ولایت په هرات ښار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د روژې په میاشت کې د رستورانتونو په آزاده فضا کې د ښځو پر روژه ماتي بندیز ولګوه. دغه بندیز بیا وروسته د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۲۶ نېټه لرې کړای شو.

- د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۱ نېټه په تخار ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست شا و خوا ۱۰ سړي په زور په یوه ځایي جومات کې د تراویح لمانځه اداء کولو ته اړ کړل او یو سړی یې له دې امله وواهه ځکه چې په جومات کې یې لمونځ نه کاوه.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، یو کس نه دی وهل شوی (ضمیمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۶ نېټه د کندوز ولایت په کندوز ښار کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست هغه دوکانونه وتړل کوم چې د تراویح لمانځه پرمهال پرانیستي وو.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دوکانونه د ماسخوتن او جمعې د لمانځه لپاره بند شوي دي (ضمیمه وګورئ).

سربېره پر دې، د یوناما د بشر حقونو څانګې له خوا داسې موارد ثبت شوي چیرې چې افراد د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونو له فزیکي تحقیر سره له دې امله مخ شوي ځکه چې هغوي د برحاله چارواکو د توصیو نه پرته د نورو عقایدو پیروي کړې وه.

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۳ کال اپریل کې په بدخشان ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست یو تعداد کسان له سلفي مذهب سره سم د تروایح لمانځه د اداء کولو له امله ووهل.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، هیڅوک له دی امله چې سلفي دی نه دی وهل شوی (ضمیمه وګورئ).

- برحاله چارواکو د ۲۰۲۳ کال د اپریل ۲۱ نېټه د کوچني اختر لومړۍ ورځ اعلان کړه سره له دې چې د شیعه مذهب تقویم له مخې دغه ورځ د روژې وروستۍ ورځ ګڼل کېده، چې اکثرا هزاره توکمه ټولنه یې پیروي کوي. پر دغې ورځ د دایکندي ولایت په نیلي ښار کې، برحاله پولیسو او برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارکوونکو په مختلفو چیک پاینټونو کې د شیعه مذهب پیروانو

[۳۴] یوناما، په افغانستان کې بشري حقونه ۱۵ اګست ۲۰۲۱ – ۱۵ جون ۲۰۲۲، د "امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت" ۵۳ مخ، دلته د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

ته د څښاک او خوړو په ورکولو سره د روژې د ماتولو امر کړی. لېر تر لږه ۲۵کسان د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۲۱ نېټه د روژې ماتولو څخه د انکار له امله وهل شوي.

د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، هیڅوک نه دی وهل شوی (ضمیمه وګورئ).

په دی وروستیو کې، د ۲۰۲۴ کال د مارچ په ۲۴ نېټه، په بدخشان ولایت کې، برحاله د ولایت مقام دفتر په یو مکتوب کې برحاله حج او اوقافو ریاست ته لارښوونه کړې چې هغه اشخاص چې اته رکعته تراویح لمونځ کوي (هغه عمل چې د سلفي پیروانو له خوا ترسره کیږي) په نښه او برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست او برحاله استخباراتو ریاست ته حواله کړي.[۳۵]

د دغې موضوع په اړه د برحاله چاراوکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، د اته رکعته تراویحو ادا کولو له امله هیڅوک هم استخباراتو ته نه دی معرفی شوی (ضمیمه وګورئ).

سربېره پر دې، د ۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۲۷ نېټه په کندهار کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست په شفاهي ډول برحاله پولیسو ته لارښوونه کړې چې ښځې هدیرو او زیارتونو ته له تګ څخه منع دي، ځکه دغه کار "غیر اسلامي" ګڼل کېده.[۳۶] د ۲۰۲۳ کال د مې پر ۱۶ نېټه په کندهار کې برحاله پولیسو اوه ښځې او نجونې د یوې هدیرې له لیدنې منع کړې. د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۷ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ډاګه کړه چې جادو (تور جادو/سحر) او د تعویذ ناسمه کارونه یا پلور په جدي ډول منع دي.[۳۷] نوموړي برحاله وزارت دغه راز یوناما د بشر حقونو څانګې ته ویلي چې دواړه سړي او ښځې له دې منع دي چې د عنعنوي مناسکو لپاره زیارت ته لاړ شي او له هدیرو څخه پر لیدنه کوم محدودیت نشته.[۳۸]

د برحاله چاراواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، مطلقا ښځې له زیارتونو څخه نه دي منع شوې بلکې هغوی باید حجاب رعایت کړي او غیر شرعي اعمال ترسره نه کړي (ضمیمه وګورئ).

## د منکراتو مخنیوی: موسیقي او ڤیلون

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د سلوکو او هغو اعمالو په اړه چې "غیر اسلامي" یا نا مناسب ګڼل کېږی لکه موسیقي او د ڤیلون کارول، یو شمېر امرونه تطبیق کړي.

پر موسیقۍ د عمومي بندیز په اړه د کوم فرمان له نشتون سره سره د موسیقۍ ممنوعیت د مختلفو تدابیرو له لارې په ډاګه شوی. د ۲۰۲۲ کال د فبروري پر ۲۷ نېټه، رسنیو برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا صادر شوې یوه لارښوونه خپره کړې چې موټر چلوونکو ته په خپلو موټرونو کې د موسیقۍ نه غږولو امر کوي.[۳۹] د ۲۰۲۲ کال د نومبر پر ۲۸ نېټه په کابل ښار کې د ودونو او هوټلونو په دروازو کې لوحې ځړول شوې چې له خلکو غوښتنه کوي چې د موسیقۍ له غږولو ډډه وکړي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ټولنیزو رسنیو ویډیو خپره شوه، دا تشریح کوي چې موسیقي حرامه ده ځکه منکرات خپروي او "د اسلام ربښې ویجاړوي".[۴۰] د ۲۰۲۳ کال په جنوري کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند په رسنیو کې خپور شوی هغه امر تایید کړ چې شاعران له هغو شعرونو له ویلو منع کوي چې له ساز او سرود سره مشابهت ولري.[۴۱] د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۱ نېټه، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت و دونو تالارونو ته لارښوونه وکړه چې په ودونو او نورو مراسمو کې د موسیقۍ له غږولو ډډه وکړي.[۴۲] د ناوړه چلند، خپلسرو نیونو او توقیفونو په ګډون د یوناما د بشر حقونو د څانګې له خوا پر موسیقۍ د بندیز د اجباري تطبیق موارد مستند شوي.

[۳۵] د بدخشان ولایت د مقام دفتر، "موضوع: د ۱۰ مارچ ۲۰۲۴ نیټې امنیتي جلسې پریکړې په اړه د بدخشان ولایت مقام ابلاغیه " [مکتوب] (دري)، ۱۲ مارچ ۲۰۲۴ . د صدور شمیره ۴۴۲-۱۴۲.

[۳۶] داسې فکر کیده چې ښځې په دغو ځایونو کې غیر الله نذرونه کول، داسې یو دود چې د هغې پر اساس غوښتنه تر سره کېدله او په بدل کی به یې د یوه مړي شخص په نامه صدقه ورکول کېدله. حنفی علما دا دود غیر اسلامي ګڼي.

[۳۷] محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۷ اګست ۲۰۲۳، د ماخوستن ۷:۵۹ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/SadiqAkif/status/1688573140199170048 (پښتو) (د ۲۰۲۴د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۳۸] د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۷ نېټه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له ویاند سره د یوناما د بشري حقونو د څانګې ناسته.

[۳۹] بي بي سي پښتو، طالبان: ښځې له شرعي محرم او عام خلک له عذر پرته بهرنیو هېوادونو ته سفر نشي کولی، ۲۲ فبروري ۲۰۲۲. دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-60547620 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۰] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۲۹ نومبر ۲۰۲۲، د سهار ۱۰:۳۰ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1597470802139807745 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۱] د هغو شعرونو له ویلو د شاعرانو منع چې له ساز او سرود سره مشابهت لري. منبع: خامه پریس نیوز: امارت اسلامي: شاعران نباید شعرهای شبیه "ساز و سرود" بسرایند، دلته د لاس رسي وړ دی: https://www.khaama.com/persian/archives/109258?fbclid=IwAR2DhDZMvino-Hxu1HoV4cnH5R8bSqTfKu78QeQSo6T9pp1z7bBmHL91_nQ (دری) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۲] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، ۱۱ جون ۲۰۲۳، د مازدیګر ۳:۱۱ بجې، دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1667844597102567424 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۸ نېټه په لوګر کې ۱۵ کسان چې د موسیقۍ په درلودلو تورن وو د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا ونیول شول
- د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۶ نېټه د بامیانو ولایت د بامیان په ښار کې برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د دغه ریاست مخ ته زیات شمیر د موسیقۍ سامان آلات او د قیلون توکي وسیځل.
- د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر پر ۱۰ نېټه په فارياب ولایت کې، برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د فارياب له پوهنتون څخه ۲۹ زده کړيالان ونيول. هغوي د خپل یوه ټولګیوال د کوژدې په مراسمو کې په لیلیه کې د موسیقۍ پر غږولو تورن وو. د راپورونو له مخې د نوموړي ریاست د منسوبینو له خوا د نیونې پرمهال ځینې محصلین پر ځپېړو وهل شوي او د توقیف پرمهال یې په زور ورباندې سرونه خریيلي. ټول تر ۱۸ ساعتونو وروسته خوشې شوي.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه کسان نه دي بندیان شوي بلکې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ته د توصیې لپاره راغوښتل شوي وو (ضمیمه وګورئ).

د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر او اکتوبر ترمنځ په فراه، هرات او بلخ کې یو شمېر قهوه خانې د قیلون د کارونې له امله برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا تړل شوي. څو میاشتې پخوا برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست قهوه خانو ته د قیلون د بندیز په اړه خبر ورکړی و. هغوي ته بیا ۲۰ ورځې وخت ورکړل شو چې دغه بندیز تطبیق کړي یا به له تړلو سره مخ کېږي.

## د انسانانو او حیواناتو د انځورونو پر نندارہ بندیز

برحاله چارواکي د انسانانو او حیواناتو انځورونه "غیر اسلامي" ګڼي او هغه یې منع کړي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا د دغه بندیز د تطبیق موارد ثبت شوي، د تبلیغاتي تابلو ګانو او عمومي مجسمو او د مانیکنونو د مخونو د پټولو په ګډون. ځینو سوداګرو یوناما د بشر حقونو څانګې ته ویلي چې هغوي برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا د سزا له ویرې د دوي په دوکانونو کې د لګولو شویو د انسانانو او حیوانانو د انځورونو مخونه پټ یا رنګ کړي. سربېره پر دې، داسې موارد مستند شوي چېرې چې نا دولتي ادارو ته ویل شوي چې له هغو موادو د انسانانو انځورونه لرې کړي کوم چې د ماشومانو او نالوستو وګړو د پوهاوي د لوړولو په پار طرح شوي، لکه د ناچاوده مهماتو د خطر او عامه روغتیا موضوع ګانې.

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۳ کال په جنوري کې د بلخ ولایت په مزار شریف کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د کامګار په څلور لارې کې یادګاري د آس سپرو مجسمې، په سفر بخیر سیمه کې دوه کوترې چې د سولې سمبول ګڼل کېدې ، او یو باز چې پر مسعود واټ نیلي جومات ته څیرمه یې موقعیت درلود لرې کړې. د ۲۰۲۳ په فبروري کې، برحاله د مزار شریف د ښاروالۍ کارمندانو همدارنګه د یوه شاعر مجسمه لرې کړه.

  د برحاله چاروکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، د تاریخي اثارو د ورانولو په هکله د امر بالمعروف ریاست هیڅ اقدام نه دی کړی، په هر حال د ښاروالۍ کارمندانو په هغو ځایونو کې چې تاریخي اثار نه وو موجود د نویو تاسیساتو جوړولو لپاره ځینې اقدامات کړي، د تاریخي اثارو ساتنې ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده (ضمیمه وګورئ).
- د ۲۰۲۳ کال جنوري کې په بدخشان او کندوز ولایتونو کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د پاسپورټونو او تذکرو د عکسونو لپاره د تبلیغاتو په ګډون د ځایي کاروبارونو هغه تابلوګانې لرې کړې یا وپوښلې چې د انسانانو یا حیوانانو عکسونه یې ښودل.

  د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، په بدخشان ولایت کې، عکسونو باندې سپرۍ وهل شوي او په کندوز ولایت کې، ذی روح تصویرونه منع شوي دي (ضمیمه وګورئ).
- د ۲۰۲۳ د جنوري او اګست ترمنځ په هلمند ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست پرسونل په لږ تر لږه دوه مواردو کې نادولتي ادارو ته لارښوونه کړې چې د چاودیدونکو مهماتو د خطر په اړه د پوهاوي یا عامه روغتیا په کمپاینونو

کې هغه معلوماتي مواد و نه کاروي کوم چې کارتونونه، د ښځو، سړیو یا ماشومانو رسمونه یا عکسونه لري.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، خارجي مؤسسو ته توصیه شوې چې د ذی روح عکسونه او یا کارتونونه محو او یا هم سپرې سره پټ کړي (ضمیمه وګورئ).

د انسانانو او حیواناتو د عکسونو د ښکاره کولو په ضد بندیز برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ځايي ریاست له خوا په شفاهي ډول ورکړل شوی. د دغه بندیز تطبیق یوازې په ځینو ولایتونو کې ملاحظه شوی. د دغې لارښوونې د تطبیق محدوده روښانه نه ده ځکه د لوړ پوړو چارواکو عکسونه لا اوس هم په عام محضر کې ښکاره کېږي، لکه په خبري راپورونو او د هغوی د ټولنیزو رسنیو په حسابونو کې.

## د غیر اسلامي جشنونو پر لمانځلو بندیز

د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۲۱ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د نوي کال (نوروز) پر لمانځنه د بندیز اعلان وکړ، ځکه چې دغه کار "غیر اسلامي" ګڼل کېده.[۴۳] په فارياب او هرات ولایتونو کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونه لیدل شوي چې چک پاینټونه یې جوړ کړي وو او د لمانځنې لپاره یې خواړه او نور توکي پلټل او پروان ولایت کې یې خلکو ته د دغې ورځې د لمانځنې پر ضد اخطار ورکړی. د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر پر ۲۴ نېټه، برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت همدارنګه اعلان وکړ چې د یلدا شپې لمانځل منع دی او هغه یې "غیر اسلامي" او د زیاتو مصارفو لامل ګڼلی.[۴۴]

د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۱۴ نېټې پر ماسپښین، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پر خواله رسنیو د مئینانو د ورځې د لمانځلو پر ضد د بندیز اعلان وکړ، ځکه چې دغه کار د برحاله چارواکو له خوا "غیر اسلامي" عمل ګڼل کېده. په کابل ښار کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا د مئینانو د ورځې په اړه پوسترونه ځړول شوي وو څو د دغې ورځې پر لمانځلو د بندیز په اړه خلک خبر کړي. د دغه بندیز د تطبیق خبرتیا پر عین ورځ رامنځ ته شوه چې خلکو ته یې د خبرتیا کافي وخت نه و ورکړل شوی، د سوداګرو په ګډون چا چې باید د دغه مناسبت په پار د چمتو شویو توکو پیرودل ځنډولی وای. پر خواله رسنیو د بندیز تر اعلان مخکې، د یوې قهوه خانې څښتن له امر څخه په نه پیروي نیول شوی و. دغه نیونه د مئینانو د ورځې پر لمانځې له بندیز سره یو ځای برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا په یوه ټویټ کې یاد شوې.[۴۵]

## د طالبانو د مشر د فرمانونو، احکامو او لارښوونو پلي کولو طریقې

د طالبانو د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت یوه مهمه دنده د طالبانو د مشر د فرمانونو، احکامو او لارښوونو، په ځانګړې توګه د هغو فرمانونو پلي کول دي چې د برحاله چارواکو له خوا د اسلامي قانون د تفسیر په اړه دي. د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۱۸ نېټه د کوچني اختر په مناسبت د طالبانو د مشر د مبارکۍ په پیغام کې، د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر له وزارت سره د خلکو د بشپړې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ.[۴۶]

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په بیلابیلو طریقو، شفاهي تهدیدولو، نیونو او توقیفونو، ناوړه چلند او په عام محضر کې په دورو وهلو له لارې په ګډون، د طالبانو د مشر فرمانونه، احکام او لارښوونې تطبیقوي. د برحاله امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د لایحو سره سم، برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت کیداي شي یو شخص د یو الزامي چارې د سرته نه رسولو یا د منع کړل شوې چارې سرته رسولو له امله تر درېو ورځو پورې بندي کړي.[۴۷]

[۴۳] برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت دوه ټویټونه وګورئ: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخواني ټویټر)، ۲۱ مارچ ۲۰۲۳، د سهار ۱۰:۰۹ بجې. دلته د لاس رسي وړ دي: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1638052712079040519 او https://twitter.com/MOPVPE1/status/1638052716525105152 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۴] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخواني ټویټر)، ۲۴ ډسمبر ۲۰۲۳، د سهار ۱۰:۳۰ بجې. د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1738801869202293029 (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۵] برحاله د امر بالمعروف او نهي المنکر وزارت په ټویټ کې د دې یادونه شوې وه چې د کابل د شیرپور حوزې محتسبینو د یوې قهوه خانې څښتن چا چې لارښوونې نه مراعاتولې، نیولی. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخواني ټویټر)، ۱۴ فبروري ۲۰۲۳، د مازدیګر ۴:۳۵ بجې. دلته د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1625466209243131904?s=20 (دری) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۶] په دغه پیغام کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په حواله راغلي دي: «ځکه چې زموږ د جهاد او مبارزې اصلي موخه د اسلامي شریعت پلي کول، د خلکو هوساینه او د ټولنې دیني او اخلاقي اصلاح وه. د الله تعالی په فضل سره په دې برخه کې د پام وړ ګامونه اخیستل شوي دي. زموږ تر ټولو لویې دندې په توګه، منکر منع او معروف د تطبیق په حال کې دي، هرڅوک باید د اړوند وزارت سره بشپړه همکاري وکړي او د نیکۍ د امر او د نامناسبو کړنو په مخنیوي کې د وزارت کارمندانو سره مرسته وکړي." وګورئ: ذبیح الله (..ذبیح الله م) [@Zabehulah_M33], X پاڼه (پخواني ټویټر)، د ۲۰۲۳ د اپریل ۱۸، د سهار ۱۰ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1648197169906606080 او https://aop.gov.af/en/news_details/1698 (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۴۷] ۱۰۷ مه ماده. "د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت لایحه،" ۲۰۲۳. د لاس رسي وړ دی: https://mopvpe.gov.af/ps/%D9%84%D9%88%D8%A7%DB%8C%D8%AD (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

- د ۲۰۲۳ کال د مې په ۸ نېټه د خوست په ښار کې څلور تنه نارينه خبريالان د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له خوا ونيول او توقيف شول. خبريالانو ته لارښوونه شوي وه چې د چارواکو پر ضد دې منفي راپورونه نه خپروي، موسيقي دې نه غږوي او د برحاله چارواکو د اصولو او قوانينو پر خلاف دې تبليغات نه خپروي. دوی د ۲۰۲۳ د مې په ۱۱ نېټه خوشې شول.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، ژورنالستان نه دی نيول شوي بلکې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست راغوښتل شوي او د موسيقي او نورو منکراتو د منعې په اړه توصيې ورته شوي (ضميمه وګورئ).

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونه د قضايي او غيرقضايي بدني مجازاتو په ترسره کولو کې ښکيل پاتې شوي.[48] برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له خوا ترسره شوي غيرقضايي بدني مجازات ډېری يې د هغو اشخاصو په ضد ترسره شوي چې د احکامو په نه رعايتولو تورن دي: د ښځو لپاره د حجاب او محرم فرمانونو د نه مراعتولو په تړاو؛ د نارينه وو اړوند، د هغو سلمانانو په اړه چې د نارينه و ږيره او وېښتان يې د احکامو پر خلاف برابر کړي، هغه نارينه چې ږيرې يې د ټاکلې اندازې او وېښتانو سټايل يې د لارښونې سره سمون نه لري، هغه نارينه چې په خپلو پلورنځيو کې يې له محرم پرته ښځو ته د پير اجازه ورکړې، او هغه نارينه چې د لمانځه لپاره جومات ته نه ځي.[49]

- د ۲۰۲۳ کال د مې په ۱۶نېټه د دايکندي ولايت په نيلي ښار کې، برحاله پوليسو او برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست له خوا جوړو شويو چيک پاينټونو کې د وهلو ټکولو او ناوړه لفظي چلند څو پيښې ليدل شوي دي. هغه محرم وهل شوی د چا چې ښځينه خپلوانو د حجاب له مشخص شوي طريقې سره سم لباس نه و رعايت کړی. د نيلي ښار په مرکزي چوک کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست په عام محضر کې د ښځو سپکاوی وکړ او ويې ويل چې هغوی بايد د خپل کورونو څخه وتلې نه وی او حجاب يې بايد رعايت کړای وی.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونه ليدل شوي چې په ځينو مواردو کې يې په عام محضر کې په دورو وهلو قضايي بدني سزاګانې تطبيق کړي، په ځانګړې توګه پر هغو کسانو چې "غير اخلاقي" جرمونه لکه زنا يا الکولو څښاک يې ترسره کړي وو.

د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه بدني سزاګانې د محکمې له خوا ثابتې شوي (ضميمه وګورئ).

د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په ۲۲ نېټه د بدخشان ولايت د فيض آباد ښار د سپورټ په لوبغاړي کې، برحاله قاضيانو، برحاله پوليسو او برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست ۲۵ تنه (۲۱ نارينه او ۴ ښځې) د زنا، او همدارنګه د مخدره توکو او د الکولو د قاچاق د جرمونو په تور په دورو ووهل.

  د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه بدني سزاګانې د محکمې له خوا ثابتې شوي (ضميمه وګورئ).

- د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په ۱۶ نېټه د بدخشان ولايت د شهدا ولسوالۍ د ولسوال د دفتر په انګړ کې، برحاله د ولسوالۍ قاضيانو او برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست او برحاله پوليسو يوه ښځه او يو سړی چې د واده څخه بهر د اړيکو درلودلو په تور پړ پيژندل شوي وو، په عام محضر کې په دورو ووهل.

  د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه کسان په دورو نه دي هل شوي (ضميمه وګورئ).

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست پرسونل له تعليمي موسسو او نادولتي مؤسسو څخه ليدنې ترسره کوي ترڅو د هغو فرمانونو تطبيق وڅېړي چې د ښځو زده کړې او په نادولتي موسسو کې د هغوي استخدام محدودوي. د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په ۲۰ نېټه، برحاله د لوړو زده کړو وزارت يو حکم صادر کړ چې له مخه يې تر امر ثاني پورې د ښځو پر لوړو زده کړو بنديز ولګېد.[50] د ۲۰۲۲ کال د دسمبر پر ۲۲نېټه، برحاله د پوهنې وزارت لخوا يو بل حکم صادر شو چې له مخه يې له شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو ټولې زده کړې وځنډول شوې

[۴۸] قضايي مجازات هغه مجازات دي چې د محکمې د پريکړې سره سم ترسره کيږي. او ځانګړې جسمي مجازات هغه مجازات دي چې د غير قضايي برحاله مقاماتو د غړي لخوا د کومې رسمي اعلان شوې پريکړې پرته ترسره کيږي. وګورئ: يوناما، په افغانستان کې بدني مجازات او د مرګ سزاء، د مې ۲۰۲۳، مخ ۱۳.

[۴۹] يوناما، په افغانستان کې بدني مجازات او د مرګ سزاء، د مې ۲۰۲۳، مخ ۱۵-۱۶.

[۵۰] د شيخ الحديث ندا محمد نديم [@NedaMohammadNad], X پاڼه (پخوانی ټويټر) د ۲۰۲۲کال د ډسمبر ۲۰، د شپې ۹:۳۶ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/NedaMohammadNad/status/1605248197248811014 (پښتو) (د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر پر ۱۰ کتل شوی. دغه اکاونټ اوس معطل دی).

(چې د ۲۰۲۱ کال له سپتمبر راهیسې د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو د ښوونځیو لا وار د مخه تړل کیدل، رسمي کوي).[۵۱] د ۲۰۲۲ کال د دسمبر پر ۲۴ نېټه، برحاله د اقتصاد وزارت ښځینه کارمندانو ته امر وکړ چې په ملي او نړیوالو نادولتي موسسو کې کار بند کړي.[۵۲]

داسې موارد موجود وو چیرې چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت راپور ورکړی چې خلکو سره په ځینو فرمانونو کې د مقررو معیارونو په رعایت کې مرسته کړې، لکه هغه چې د ښځو او ماشومانو د ساتنې په موخه دي. د ۲۰۲۱ کال د دسمبر په ۳۱ نېټه د طالبانو د مشر له خوا د ښځو د حقونو په اړه ځانګړی فرمان صادر شو. دغه فرمان د جبري ودونو او همدارنګه د ښکېلو خواوو ترمنځ د دښمنۍ د پای ته رسولو په بدل کې د ښځو سره د ملکیت په توګه چلند (په بدو کې ورکول) منع کوي.[۵۳] د دې فرمان د پلي کولو په ترڅ کې، د ۲۰۲۳ کال جنوري کې په ننګرهار ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د یوې نجلۍ د پلار له خوا پور غوښتونکی ته د پور ورکولو په بدل کې د خپلې لور په پلورلو کې مداخله کړې. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند ویلي دي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د نجلۍ پر پلار پاتې پور تصفیه کړ او د دغې معاملې مخه یې نیولې.[۵۴] د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ په میاشت په کندوز ولایت کې، برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له یوه ۵۰ کلن سړي سره د یوې ۱۲ کلنې نجلۍ د اجباري واده مخه نیولې. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویاند په حواله، د دې قضیې عاملین نیول شوي او د اجباري ودونو پر وړاندې د قانوني چلند خبرداری ورکړل شوی دی.[۵۵]

## په برحاله ادارو کې د شکایتونو اوریدلو په میکانیزم کې د معیارونو رعایتول

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو د حل یو میکانیزم رامنځته کړی چې له مخې یې په افغانستان او بهر کې میشت خلک کولی شي د برحاله چارواکو په وړاندې خپل شکایتونه د ټیلیفون له لارې یا په لیکلي ډول وړاندې کړي.[۵۶] د شکایتونو بکسونه په مختلفو ځایونو کې نصب شوي ترڅو د خلکو لیکلي شکایتونه راغونډ کړي.[۵۷]

د ۲۰۲۳ کال د نومبر پر ۸ نېټه، د شکایتونو د اوریدلو قانون د یو فرمان د مخې توشیح شو چې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شکایتونو د اوریدلو او طرز العمل چاره مشخصه کړې. د دغه نوي قانون له مخې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت کولی شي جدي شکایتونه په مستقیم ډول د طالبانو مشر ته راجع کړي. نوموړي برحاله وزارت همدارنګه د دې صلاحیت لري چې د محکمې د پرېکړو د نه تطبیق کولو او دغه راز د خورا اوږدو قانوني اجراآتو په اړه پلټنې وکړي.[۵۸]

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت درې ریاستونه د اتباعو شکایتونو ته د رسیدګۍ مسولیت لري: (۱) د شکایتونو اوریدل (۲) تحلیل او بررسی (۳) ارجاع او تعقیب.[۵۹] کله چې شکایت ترلاسه شي، د شکایتونو اوریدلو ریاست لومړی هڅه کوي چې قضیه حل کړي، ډیری وختونه د منځګړیتوب له لارې. د تحلیل او بررسی او ارجاع او تعقیب ریاستونه د لا زیاتو پیچلو قضیو د تحقیق او تعقیب مسولیت لري.

[۵۱] د رسنیو لخوا خپره شوې رسمي لارښوونې وګورئ څنګه چې د پوهنې برحاله سرپرست وزیر لخوا تایید شوې. ازادي راډیو، د طالبانو نوی حکم؛ له شپږم ټولګي پورته نجونو لپاره ښوونیز کورسونه منع اعلان شول د. د ۲۰۲۲ د دسمبر ۲۲ نېټه، د لاس رسي وړ:
https://pa.azadiradio.com/a/32189388.html (پښتو) (د ۲۰۲۴د مارچ پر ۱۹نېټه کتل شوی).
[۵۲] د رسنیو لخوا خپره شوې رسمي لارښوونې وګورئ څنګه چې د اقتصاد برحاله وزارت لخوا صادر شوې. د خپریدو شمیره ۴۲۹۳، نېټه د ۲۰۲۲ کال د دسمبر ۲۴.
[۵۳] وګورئ: ذبیح الله (..ذبیح الله م) [@Zabehulah_M33], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، د ۲۰۲۱ د ډسمبر ۳۱، د سهار ۱۱:۲۶بجې. د لاس رسي وړ:
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1466662484375326720 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۵۴] محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د جنوري ۱۴ د شپې ۹:۲۸ بجې. د لاس رسي وړ:
https://twitter.com/SadiqAkif/status/1614305977251291139 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۵۵] محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د فبروري ۱۵ د شپې ۷:۴۷ بجې. د لاس رسي وړ:
https://twitter.com/SadiqAkif/status/1625877060114698248 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی ).
[۵۶] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۴ د می د ۳۰مه د غرمې ۱۲:۳۱ بجې. د لاس رسي وړ:
https://twitter.com/MOPVPE1/status/1796089643852579132 (پښتو) (د ۲۰۲۴ می پر ۳۰ نېټه کتل شوې ده).
[۵۷] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د مارچ ۲۶مه د غرمې ۱۲:۵۴بجې. د لاس رسي وړ:
https://twitter.com/SadiqAkif/status/1639906150505148416 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوې ده).
[۵۸] ۱۰ ماده، د طالبانو مشر، "د شکایتونو اوریدلو قانون اړوند فرمان"، رسمی جریده د صدور شمیره ۱۴۴۴، مارچ ۲۰۲۴. (پښتو او دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۵۹]برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت "د تشکیل دیاګرام" [ویب پاڼه]. د لاس رسي وړ:
https://www.mopvpe.gov.af/dr/%D8%AF%DB%8C%D9%88%DA%AF%D8%B1%D8%A7%D9%85-%D8%AA%D8%B4%DA%A9%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%AA%DB%8C - (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

هغه شکایتونه چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د دریو ریاستونو له خوا نه شي حل کېدای د قضاوت لپاره برحاله نظامي محکمې ته راجع شوی دي.

د ۲۰۲۳ کال د اګست په ۱۴ نېټه د برحاله چارواکو د حساب ورکونې د ناستې په جریان کې، چیرې چې مختلفو برحاله وزارتونو په عام ډول د خپل تیر کال د کار راپور وړاندې کړ، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند وویل چې په ټول هیواد کې د ۲۰۲۲ د اګست او د ۲۰۲۳ کال اګست میاشتې ترمنځ موده کې ټولټال ۱۰۸۷۵ شکایتونه ترلاسه شوي، چې له دې جملې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ۷۹۱۵ حل کړي.[60] د ۲۰۲۱ کال د اګست او ۲۰۲۲ د اګست د میاشتې تر منځ موده کې ۱۸۰۴ عام شکایتونه ترلاسه شوي چې له دې جملې ۱۰۸۹شکایتونه په حضوري یا د ټلیفون له لارې او ۷۱۵ په لیکلي ډول ترلاسه شوي دي![61] سره له دې، د شکایتونو د ښځینه افسرانو نشتوالی، ښځې د خپلو شکایتونو د وړاندې کولو مانع کیږي ځکه چې د ښځینه شکایت کوونکو او د شکایت د نارینه افسرانو ترمنځ تعامل په افغاني کلتور کې په پراخه کچه د منلو وړ نه دی. که څه هم نوي قانون له غچ څخه د ساتنې په موخه ځینې تدابیر برابر کړي (لکه، برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت کولای شي د هر هغه طرف په وړاندې چې شاکي تهدیدوی، اقدام وکړي او محکمې ته یې وروپیژني)،[62] په مرکزي او ولایتي کچه برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د چارواکو له خوا د فعالیتونو د تطبیق په جریان کې ترسره شوي اعمال، د شکایتونو اوریدلو پر دغه میکانیزم د خلکو باور کمزوری کړی.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ماموریت د یوې برخې په توګه، دغه برحاله وزارت د برحاله ادارو د غړو له خوا د فرمانونو، حکمونو او لارښوونو رعایتول څاري.

د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۲ کال د مې په ۲۴ نېټه په بادغیس ولایت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست برحاله د پوهنې له ریاست څخه لیدنه وکړه او د ږیرې اوږدوالی یا د خولۍ او پګړۍ د نه اغوستلو لپاره چې ناسم ګڼل کیږي، ۱۴ تنه نارینه کارکوونکي ونیول.

د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه کسان نه دي بندیان شوي بلکې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ته د توصیې لپاره راغوښتل شوي (ضمیمه وګورئ).

د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې، رسنیو راپور ورکړ چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت یو لیک واستوه چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې برحاله ریاستونو ته لارښوونه کوي چې د متعددو وادونو لرونکو برحاله چارواکو لیست برابر کړي کوم څه چې د برحاله چارواکو ترمنځ د زیاتو لګښتونو د مخنیوي هڅه ګڼل شوې. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند له رسنیو سره د دغه مکتوب پخلی کړی.[63] د ۲۰۲۳ کال د فبروري په میاشت کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت نظامي قوماندانانو ته امر وکړ چې هغه کسان و نه ګماري د چا چې صورت او سیرت د سنتو (اسلامي اعمالو لکه څنګه چې د برحاله چارواکو له خوا تعبیر شوي) خلاف وي.[64] د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۹ نېټه، په لوګر کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د بیلابیلو برحاله ریاستونو لسګونه کارمندان د خولۍ یا پګړۍ نه په سرولو او د ټاکل شوې ږیرې اوږدوالي په اړه د لارښوونو د نه رعایتولو له امله د دریو ورځو لپاره توقیف کړل.

د دغې پېښې په اړه د برحاله چارواکو له خوا د ورکړل شوي ځواب سره سم، دغه کسان نه دي بندیان شوي بلکې په سیمینار کې د ګډون لپاره راغوښتل شوي وو (ضمیمه وګورئ).

[۶۰] ملي راډیو او تلویزیون پښتو، ملت ته د امر بالمعروف، نهي عن المنکراو شکایتو اوریدلو وزارت د حساب ورکولو پروګرام ژوندی بهیر (ویډیو)، یوټیوب، د ۲۰۲۳ د اګست ۱۴مه. د لاس رسي وړ: https://www.youtube.com/watch?app=desktop&v=VkosWDEGu00 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۶۱] ملي راډیو او تلویزیون پښتو، ملت ته د امر بالمعروف، نهي عن المنکر وزارت د حساب ورکولو کلنۍ راپور (ویډیو)، یوټیوب، د ۲۰۲۲ د اګست ۲۲مه. پر دغه ویبپاڼه وګورئ: https://wwwhttps://youtu.be/RQ6NR_ETysg (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۶۲] ۱۲ ماده، د طالبانو مشر، "د شکایتونو اوریدلو قانون اړوند فرمان"، رسمی جریده د صدور شمیره ۱۴۴۴، مارچ ۲۰۲۴. (پښتو او دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۶۳] طلوع نیوز [@TOLOnews], X پاڼه (پخوانی ټویټر)، د ۲۰۲۲ د مې ۲۰مه، د شپې ۷:۲۴ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/TOLOnews/status/1527663962594152448 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

[۶۴] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د فبروري ۷مه د ماسپښین ۳:۲۶بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1622912279351009281?s=09 (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

داسې برېښي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د خپلو کارمندانو ترمنځ د ډسپلین او نظم د ښه کولو لپاره ګامونه پورته کوي. د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۲ نېټه، د بلخ ولایت په مزارشریف ښار کې، د نیلي جومات په شمال کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست یوه کارمند یوه ټکسي ودروله او چلوونکی یې په دې خاطر په څپېړه وواهه چې له محرم پرته یې یوه ښځینه مسافره لېږدوله. د پېښې ویډیو په ټولنیزو رسنیو کې په پراخه کچه خپره شوه. وروسته یو ټویټ برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویاند له خوا خپور شو او دا یې په ډاګه کوله چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست دغه کارمند نیول شوی او قضایي ارګانونو ته سپارل شوی دی.[۶۵] د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۲۴ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند وویل چې په کابل کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د یوه کارکوونکي په ضد د شکایت په پایله کې چې دغه کس برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د پالیسۍ خلاف عمل کړی، له خپله دندې ګوښه او برحاله محکمې ته راجع شو.[۶۶] د ۲۰۲۳ کال د مې په ۲۴ نېټه په کابل کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت وروسته له هغې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست یو محتسب له دندې ګوښه کړ او برحاله محکمې ته یې راجع کړ کله چې یوه ویډیو خپره شوه چې دی د بس چلوونکي په څپېړه وهي.[۶۷]

## برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پراخیدونکی نقش

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت نقش پراخیدل دوام لري چې د عام ژوند او سلوک لا زیاتې برخې تر خپل نفوذ لاندې راولي.

په مثالونو کې راتلونکي هغه شامل دي:

- برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په مرکزي کچې د رسنیو د سرغړونو په کمیسیون کې استازیتوب لري کوم چې د ۲۰۲۲ کال د اګست په ۲۳ نېټه خپل فعالیتونه بیا پیل کړل. په لږ تر لږه لسو ولایتونو کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ولایتونو په کچه د رسنیو د سرغړونو په کمیټو کې استازیتوب کوي کوم چې په هر ولایت کې د ځایي رسنیو کار څاري. په داسې حال کې چې د رسنیو د فعالینو څارنه په عام ډول د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر نظر لاندې ده، داسې موارد مستند شوي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ژورنالیستانو د چلند په څارنه کې دخیل و. په یوه ټویټ کې چې د ۲۰۲۳ کال د اپریل په ۲ نېټه خپور شو، برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت له برحاله نورو وزارتونو څخه یې غوښتنه کوله - په احتمالي ډول برحاله د استخباراتو لوي ریاست او برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ته یې اشاره کوله – چې د رسنیو په چارو کې مداخله ونکړي او برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت دغه ډول مسئلو ته د رسیدګی یوازینۍ مرجع وګڼي.[۶۸]
- د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې په ۲ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزیر پر نشه یي توکو ۳۵۰۰ روږدو ته د درې ورځني روزنیز سیمینار په ترڅ کې اعلان وکړ چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پر نشه یي توکو د روږدیتوب په له منځه وړلو بوخت دی.[۶۹]

[۶۵] محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د اپریل ۲مه د شپې ۷:۲۹ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/SadiqAkif/status/1642542255134089218 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۶۶] محمد صادق عاکف [@SadiqAkif], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د اپریل ۲۴ د ماښام ۶:۳۴ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1650501082278252548 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۶۷] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPV], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د مې ۲۴ د شپې ۱۰:۳۲بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1661432377355255808 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۶۸] د اطلاعاتو او کلتور وزارت [@AfMoic], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د اپریل ۲، د مازدیګر ۴:۰۶ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/AfMoic/status/1642491137779793920 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی. دغه اکاونټ اوس معطل دی).
[۶۹] سمون [@Samoon۲۲۲], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د مارچ ۲، د شپې ۱۱:۵۹ بجې. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/Samoon222/status/1631376313742139399 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).

- د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۵ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د بې کيفيته سرو زرو پلورل منع اعلان کړل، د سرو زرو د سرغړونکو پلورونکو په ضد يې د قانوني اقدام ګواښ وکړ.[۷۰] سربېره پر دې، برحاله د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د سوداګريزو چارو د تنظيم مسؤليت لري تر څو د غير اخلاقي کړنو لکه سود، احتکار، د مبيعې د عيب له پټولو، عيب لرونکو او منع شوو توکو خرڅول يا داسې کړنو څخه چې د اسلامي اصولو سره سمون نلري، مخنيوی وکړي.[۷۱]
- داسې موارد ليدل شوي چې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو د افرادو ترمنځ د شخړو د حل لپاره منځګړيتوب ترسره کړی. د ۲۰۲۳ کال د اپريل په ۶ نېټه، په فراه کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو په سيمه ييزو رسنيو کې اعلان وکړ چې د ۲۰۲۱ کال له اکتوبر څخه د ۲۰۲۳ کال د اپريل تر مياشتې د خلکو تر منځ ټولټال ۷۳ شخړې حل کړې دي (د ټولټال ۲۱۷ ثبت شويو قضيو له جملې څخه).[۷۲]
- لږ تر لږه په ۱۱ ولايتونو کې، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياستونو يوناما د بشر حقونو څانګې ته خبر ورکړی چې دوي د هغو تاسيساتو څخه د څارنې ليدنې ترسره کوي چېرې چې افراد توقيف شوي.

## پر بشري حقونو او بنسټيزو آزاديو اغېزې

افغانستان د بشري حقونو د اوو نړيوالو تړونونو او دريو اړوندو اختياري پروتوکولونو يو غړی هېواد دی.[۷۳] افغانستان په دغو تړونونو کې د وضع شويو مکلفيتونو پر رعايتولو مکلف دی[۷۴] او په دغو تړونونو کې له وضع شويو حقونو څخه د برخمن کېدو د ښځو او نارينه وو د مساوي حقونو د ډاډمنولو مکلفيت لري.[۷۵] د دغو تړونونو د تصويب يا له هغوي سره د الحاق پرمهال، افغانستان په تړونونو کې د هيڅ مادې په اړه د شرط حق [ريزرويشن] نه دی ضميمه کړی.

له تاسيس راهيسې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر برحاله وزارت فعاليتونو لا وار د مخه پر ښځو له توپيري او نا متناسب اغيز سره د ژوند په مختلفو برخو کې له بشري حقونو او بنسټيزو آزادي ګانو څخه پر برخمن کېدو منفي اغيزې ښيندلي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د لارښوونو او حکمونو د تطبيق ځينې طريقې له بشري حقونو څخه د سرغړونې لامل کيږي. د خپرو شويو لارښوونو په اړه ابهامات او تناقضات، د دغو لارښوونو له نه مراعاتولو سره مله نه وړاندوينه، شدت او نه متناسبتوب او په عامه او خصوصي حريم کې د افرادو د فعاليتونو د تنظيم په پار محدودوونکي تدابير د يو ډله وګړو تر منځ له وېرې او ګواښ ډک چاپېريال په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

[۷۰] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPV], X پاڼه (پخوانی ټویټر) د ۲۰۲۳ د مارچ ۵، د سهار ۱۰:۱۷. د لاس رسي وړ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1632256405737463808 (پښتو) او https://twitter.com/MOPVPE1/status/1632062737982390272 (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۷۱] ۱۴۳ او ۱۴۵ ماده، "د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت لایحه"، ۲۰۲۳. د لاس رسي وړ: https://mopvpe.gov.af/ps/%D9%84%D9%88%D8%A7%DB%8C%D8%AD (پښتو) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹نېټه کتل شوی).
[۷۲] وطن۲۴، ۷۳ مورد دشمنی بين مردمی در فراه حل شده است. د ۲۰۲۳ د اپریل ۹ . د لاس رسي وړ: https://watan24.com/73-مورد-دشمنی-بین-مردمی-در-فراه-حل-شده-است/ (دري) (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه کتل شوی).
[۷۳]
۱. د مدنې، اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال ميثاق، (۱۹۹۶)
۲. د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، (۱۹۹۶)
۳. د شکنجې او نورو ظالمانه غير انساني يا د سپکاوي ډک چلند يا مجازاتو پروړاندې کنوانسيون (۱۹۸۴)
الف: د شکنجې په وړاندې د کنوانسيون اختياري پروتوکول (۲۰۰۲)
۴. د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسيون (۱۹۷۹)
۵. د نژادي تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون (۱۹۶۵)
۶. د ماشوم د حقونو کنوانسيون (۱۹۸۹) ("CRC")
الف: په وسله والو شخړو کې د ماشومانو د ګډون په اړه د ماشوم د حقونو کنوانسيون اختياري پروتوکول (۲۰۰۰)
ب: د ماشومانو د خرڅلاو، د ماشومانو فحشا او د ماشومانو پورنوګرافي (بربنډ انځورګري) په اړه د ماشوم د حقونو کنوانسيون اختياري پروتوکول (۲۰۰۰)
۷. د معلوليت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسيون (۲۰۰۶)
[۷۴] د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه ليک ۲۶۲۶، پاراګراف ۵ (ث) او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ۲۷۲۷ پريکړه ليک وګورئ.
[۷۵]د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق ۳مه ماده، د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال ميثاق ۲.۲ ماده، د ښځو په وړاندې د تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون ۲ ماده؛ د ماشوم د حقونو کنوانسيون ۲ ماده.

برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ډاګه کړې چې د دوي لارښوونې په ماهيت کې د سپارښتنې بڼه لري، او د مجازاتو تطبيق د نوموړي وزارت دنده نه ده.[۷۶] له دې سره سره، د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵نېټې څخه د ۲۰۲۴ کال د مارچ ۳۱ نېټې ترمنځ، یوناما لږ تر لږه ۱۰۳۳موارد مستند کړي (۲۰۵ د ښځو په وړاندې، ۸۲۸ د نارينه و په وړاندې) چيرې چې برحاله د امر بالمعروف کارمندانو د لارښوونو د پلي کولو په جريان کې زور کارولی، چې د **شخص د ازادۍ، او جسمي او روحي سلامتيا** څخه د سرغړونې لامل شوي دي.[۷۷] په دې کې ګواښونه، خپلسرې نيونې او توقيفونه، برحاله د قانون تطبيق کوونکو منسوبينو له خوا د زياتې قوې د کارونې ، او ناوړه چلند شامل دي.[۷۸] د دې لارښوونو د تطبيق پرمهال، د خلکو د **خصوصي حريم حق**[۷۹] د دوی په تليفون يا موټرو کې د منع شوو شيانو (لکه موسيقۍ) د لټون، په جوماتونو کې د دوی حاضري اخيستلو، او يا عامه ځايونو کې د کورنۍ د اړيکو د ثبوت وړاندې کولو له امله نقض شوی. دغه کار برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا، دغه ډول تلاشيو له ترسره کولو يا په جوماتونو کې د حاضرۍ له اخيستلو څخه د خپلو محتسبينو له صريح ممنوعيت سره سره ترسره کېږي.[۸۰] سربيره پر دې، د جسمي سزا کارول **د شکنجې او نورو ظالمانه غير انساني يا د سپکاوي ډک چلند يا مجازاتو ممنوعيت** څخه سرغړونه ده.[۸۱]

د محرم اړتيا يو داسې وضعيت رامنځته کوي چې د ښځو د تګ راتګ آزادي په نارينه خپلوان پورې متکي کوي، کوم چې د **تګ راتګ د ازادۍحق** سره مطابقت نه لري.[۸۲] دا همدارنګه د ښځو **د کار کولو حق**[۸۳] هم اغيزمنوي ځکه چې د محرم اړتيا د ميرمنو لپاره د مالي او لوژستيکي خنډونو لامل کيږي په خاص ډول په هغو مسلکونو کې ښکيلتيا کوم چې د اوږده واټن سفر ته اړتيا لري. همدارنګه دا روغتيايي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي او **روغتيا** ته د دوی د **حق**[۸۴] په وړاندې هم خنډ ګرځي، په ځانګړې توګه په ليرې پرتو سيمو کې چې روغتيايي مرکزونه ورته نږدې نه وي. ښځې پرته له محرم يا د محرم له رضايت پرته ځينې وختونه طبي مرکزونو ته د لاس رسي، خپلې دندې ته تګ راتګ او يا، په هر دليل چې وي، د سفر کولو توان نه لري.

پارکونو، جيمونو او عامه حمامونو ته د ښځو د لاسرسي منع کول د دوي **د جسمي او رواني روغتيا تر ټولو لوړ تر لاسه کېدونکي معيارحق** اغيزمنوي. په ځينو مواردو کې، عامه حمامونه د ښځو لپاره په ژمي کې د حمام ګرمو اوبو ته د لاسرسي يوازينۍ لار ده، چې **د اوبو او روغتيا پالنې** ته د دوي **حقونه** اغيزمن کوي. لکه څنګه چې ښځې د تفريح او تمرين کولو لپاره لږ انتخابونه لري، پارکونو او جيمونو ته د دوي د لاسرسي ممانعت د دوي رواني او فزيکي روغتيا نوره هم اغيزمنه کوي. ښځې د ماشومانو لومړنۍ پالونکې دي، د ښځو لپاره د پارکونو تړل، تفريحي فعاليتونو ته د ماشومانو لاسرسی هم محدودوي. د راپورونو له مخې د پارک چلوونکي او په شاوخوا کې سوداګر د پارک د مشتريانو او ليدونکو د کمښت په پايله کې د عوايدو له لاسه ورکولو سره مخ شوي. دغه ډول اقدامات د انډول په نه لرلو سره پيژندل شوي: په داسې حال کې چې د بنديز د لګولو ښکاره دليل دا و چې له شته قوانينو څخه سرغړونه ترسره شوي، د دغه ډول اقداماتو د تطبيق لپاره ډيرې کمې هڅې شوي او پرځای يې پراخ

[۷۶] یوناما، په افغانستان کې بشري حقونه د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵، د "امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لخوا وړاندیزونه" ۵۳ پاڼه. د لاس رسي وړ: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه لیدل شوې ده).
[۷۷]د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶ او ۹ ماده.
[۷۸] د ژوند، ازادۍ، فزیکي او ذهني سلامتیا / بشپړتیا په اړه د بشري حقونو د سرغړونو د تعریف لپاره وګورئ: یوناما، په افغانستان کې بشري حقونه د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵، لومړی ضمیمه.
[۷۹]د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۷ماده
[۸۰] یوناما، په افغانستان کې بشري حقونه د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵، د "امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لخوا وړاندیزونه" ۵۳ پاڼه. د لاس رسي وړ: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting (د ۲۰۲۴ د مارچ پر ۱۹ نېټه لیدل شوې ده).
[۸۱]وګورئ، یوناما، جسمي مجازات او د اعدام سزا په افغانستان کې، می ۲۰۲۳، پاڼې ۷-۸ او ۱۹.
[۸۲]د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۲(۱) ماده. د بشري حقونو کمیټه، عمومي تبصره ۲۷ (۶۷).CPR/C/21/Rev.1/Add.9، هم وګورئ.
[۸۳]د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق، ۶ ماده، د هر فرد لپاره د کار له لارې د خپل معیشت د ترلاسه کولو فرصت په اړه صراحت لري. CEDAW ، ۱۱ ماده وايي چې: غړي هیوادونه باید د کار په ساحه کې د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو لپاره ټول مناسب اقدامات وکړي.
[۸۴] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق، ۱۲ ماده.

بندیزونه پلي شوي. سربېره پردې د امیندوارۍ د مخنیوي لپاره درملو ته د لاسرسي محدودیت، **د ښځو د جنسي او زیږون د روغتیا حق** نقض کړی.

ښځې د کار کولو له لارې د خپل معیشت د ترلاسه کولو لپاره د هغه فرصت او د **کار حق** لري چې دوي یې په آزاد ډول غوره کوي یا یې مني.[۸۵] برحاله چارواکي مکلف دي چې د دې حق د ساتنې لپاره مناسب ګامونه پورته کړي او د ټولو لپاره مناسب کار ته د مساوي لاسرسي له انکار یا محدودولو څخه ډډه وکړي.[۸۶] په داخلي او نړیوالو نادولتي موسسو کې د ښځو پر کار بندیز دغه حق نقضوي او وار د مخه یې ډېری میرمنې له ناوړه مالي حالت سره مخ کړي. د سینګارتونونو د تړلو فرمان د ډېرو میرمنو او همدارنګه د اکمالاتو په لړۍ کې د ښکیلو سوداګرو پانګه او معیشت ویجاړ کړ. د ښځو د پلورنځیو/دوکانونو په وړاندې برحاله د امر بالمعروف نهي عن المنکر د ریاستونو له خوا د تړلو شفاهي لارښوونې په دغه حق کې لاسوهنه ګڼل کیږي او د ګواښ او سوداګرۍ ناڅرګندوالي سره مرسته کوي او له کاري ځواک څخه د میرمنو د وتلو لامل شوی. د ښځو په مشرۍ په پلورنځیو محدودیتونه، د دوي **د ژوند د مناسب معیار حق**[۸۷] نور هم خنډ سره مخ کوي، په ځانګړې توګه د افغانستان وار د مخه ستونزمن اقتصادي وضعیت کې د هغو کورنیو لپاره چې سرپرستي یې ښځینه کوي.

د ښځو او نارینه وو د ظاهري بڼې او لباس لکه د حجاب، د ږیرې اوږدوالي او دوبښتانو د سټایل په اړه د لارښوونو په شدت تطبیق، د هغوي **د بیان آزادي او د خصوصي حریم حق** محدودوی.[۸۸] د حجاب اړوند فرمان په پلي کولو سره د ښځو **د تګ راتګ آزادي**، د خپلسرو نیونو او توقیف کولو د ویرې له امله لا زیانمنه شوی ده. د نوروز لمانځل، د موسیقۍ، انځورونو، عامه مجسمو او د انسانانو او حیواناتو د انځورونو په وسیله د هنري تعبیر بیانولو د ممنوعیت اقدامات د یوه فرد **په کلتوري ژوند کې د ګډون حق** کې لاسوهنه ګڼل کیږي.[۸۹] د انسانانو د انځورونو پر ښودلو بندیز د عامه معلوماتو د خپرولو په وړاندې عملي ننګونې رامنځ ته کوي. دا په ځانګړې توګه د عامې روغتیا او د نا چاوده توکو په اړه د پوهاوی کمپاینونو ته زیان رسوي، چیرې چې د داسې مواردو راپور ورکړل شوی چې هغه پوسترونه منع شوي کوم چې د انسان عکسونه لري، په غیر مستقیم ډول د هغو موضوعاتو په اړه معلوماتو ته د خلکو حق له خنډ سره مخ کوي کوم چې د دوي **د روغتیاحق او د ژوند پر حق** تاثیر کوي.

د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا له اکراه او ناوړه چلند سره مل د مذهبي مناسکو اجباري تحمیل **د فکر، وجدان او مذهب د ازادۍ حق** نقضوي.[۹۰] په دې کې د مذهبي مناسکو، لمانځنو، رخصتیو او استراحت د ورځو په ګډون د عبادت، لمانځنې، ممارست او لارښوونو په بڼه د یوه فرد د دین لمانځنه شامله ده.[۹۱] هیڅوک نه باید له اکراه سره مخ شي کوم چې د دوی د مذهب آزادي زیانمنوي.[۹۲]

په پای کې، د ځینو لارښوونو او برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د وزارت او ریاستونو د منسوبینو پورې اړوند د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د قانوني وضاحت نشتوالی د قانون پر واکمنۍ د خلکو باور اغیزمن کوي. په داسې حال کې چې د هغو کارکوونکو د ګوښه کولو لپاره ځینې هڅې شوي چې د دندو د ترسره کولو پر مهال د ناوړه چلند مرتکب شوي، د کارکوونکو لپاره د عمومي احتساب نشتوالی، له ویرې پرته د خلکو د اندیښنو د څرګندولو مخه نیسي.

## پایله

څرنګه چې افغانستان د یوه غړي دولت په توګه د بشري حقونو د یو شمېر نړیوالو سندونو ته متعهد او غړي هیواد ګڼل کیږي، برحاله چارواکي مکلف دي چې په هیواد کې د میشتو وګړو د بشري حقونو د ساتنې او هغوي ته د ودې ورکولو په پار اعظمي هڅې ترسره کړي، او له کوم توپیر پرته د ښځو او نارینه وو ترمنځ له بشري حقونو څخه مساوي برخمن کیدل ډاډمن کړي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او برحاله د ولایتي ریاستونو له خوا یې صادرې شوې لارښوونې او دغه راز د دغو لارښونو د تطبیق په پار ځینې کارول شوې طریقې له مختلفو بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو سرغړونه تشکیلوي.

[۸۵]د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق، ۶ ماده.
[۸۶] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو کمیټه، عمومي تبصره شمیره ۱۸ (۲۰۰۵) د کار کولو د حق په اړه (E/C.12/GC/18).
[۸۷] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق، ۱۱ ماده.
[۸۸] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۹ ماده.
[۸۹] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۵(الف) ماده.
[۹۰] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۸ ماده.
[۹۱] د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر، CCPR عمومي تبصره شمېره ۲۲: ۱۸مه ماده (د فکر، وجدان یا مذهب آزادي)، د ۱۹۹۳ د جولای د میاشت پر ۳۰ د بشري حقونو کمیټې په اته څلویښتمه غونډه کې تصویب شوه، CCPR/C/21 /Rev.1/Add.4، عمومي تبصره شمیره ۲۲. (عمومي تبصرې)، ۴م پاراګراف.
[۹۲]د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۸(۲) ماده.

سربیره پردې، ځیني وختونه لارښوونې ابهامات او تناقضات لري چې د قانوني وضاحت د نشتوالي لامل کیږي، کوم چې د برحاله چارواکو لخوا د متفاوتو تفسیرونو او د ناوړه ګټه اخیستنې د مختلف ډولونو لامل شوي. دغو لارښوونو او فرمانونو له نه رعایتولو سره تړلې سزاګانې زیاتره خپلسرې، شدیدې او نامتناسبې دي. پر ښځو باندې تبعیضي اغیز سره پراخ بندیزونه معرفي شوي. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او د دغه برحاله وزارت د ریاستونو د کارمندانو له خوا ترسره شوي د بشري حقونو سرغړونې د دوي پر کار د خلکو باور اغیزمن کړی، په ځانګړې توګه د دوي د شکایتونو اوریدلو د ماموریت په اړه. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا د بشري حقونو سرغړونې، او همدارنګه د اقداماتو د پلې کولو نه وړاندوینه د یو ډله وګړو تر منځ د ویرې او ګواښ د چاپیریال په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

## ضمیمه[۹۳]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**په کابل کې د یو ناما د بشري حقونو د څانګې له خوا په افغانستان کې د برحاله چارواکو له خوا اخلاقي څار نې او پر بشري حقونو ئې اغېزي په اړه د مې ۲۰۲۴ نېټې راپور مسودې ته ځواب**

**په دې توګه د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا په یاد راپور کې د ترسره سویو ادعاوو او پېښو په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت له خوا د هري موضوع په تړاو وړاندي سوي ځوابونه په بېل-بېل ډول دوو برخو او ۸ پاڼو کي وړاندي کېږي:**

**لومړۍ برخه: په راپور کي راغلیو موضوعاتو ته ځوابونه:**

**أ. پر رسنیو د محدودیتونو په اړه:**

د ا.ا.ا له راتګ سره سم رسنۍ ازادۍ پرېښودل شوې، تر اوسه پورې کوم محدودیت ندی پرې وضع شوی، که کومې رسنۍ له غبرګون سره مخ شوي، هغه د هغوی د غیري قانوني کړنو له امله شوې دي.

تر ډېره پورې هغه خبریالان چې نیول شوي، زیاتره پېښو کې د دوی نیونه په خبریالي پورې اړه نلري او تر ډېره په نورو جرمونو کې ښکېل وي.

حکومتونه مسولیت لري چې د خلکو د فزیکي امنیت سربیره د هغوی رواني امنیت ته هم پاملرنه وکړي، دا چې د افغانستان ټولنه یوه سنتي او په دیني ارزښتونو ولاړه ټولنه ده، دې ته په کتو هغه څه په رسنیو کې منعه شوي چې د خلکو رواني امنیت یې ګواښه او ترځنګ هغو نشراتو ته هم دا بندیز شامل دی چې د دیني او افغاني ارزښتونو او قوانینو سره په ټکر کې و، د دغو ډول نشراتو پر وړاندې خلکو غبرګونو نه هم ښودلي دي او له حکومته یې د دا ډول نشراتو د مخنیوي غوښتنه بار بار کړې ده.

د اسلام په مبارک دین کې هم د حق ویل د قطعي نص څخه ثابت دي په دې شرط چې د خبرو عفت، ټولنیز آداب او کرامت پکې محفوظ وي د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت ټولې کړنې د اسلام د اساساتو پر مبنی دي فلهذا د راپور په ذکر شویو مواردو کې اړینې لارښوونې د اسلام د احکامو پر بنسټ دي.

**ب. د محرم (نارینه سرپرست) په اړه:**

له ښځې سره د محرم شتون زموږ د دیني ارزښت ترځنګ کلتوري ارزښت هم دی.

که کومه ښځه له محرم څخه پرته سفر کوي د خلکو له منفي غبرګون سره مخ کیږي، په افغاني ټولنه کې هیڅوک دا نه خوښوي چې ښځې دې له محرم پرته سفر وکړي. همدارنګه د اسلام مبارک دین هم معینه فاصله ټاکلې که ښځه هومره سفر کوي باید محرم ورسره و. دې ته په کتو له ښځې سره د محرم شتون څخه هدف د هغوی د عفت او عزت ساتنه ده.

**ج. د حجاب په اړه:**

حجاب زموږ د دیني ارزښت ترځنګ یوه کلتوري ارزښت هم دی، په افغاني ټولنه کې که چېرته خلک بې حجابه ښځه وګوري ښایي د هغوی له سخت غبرګون سره مخ شي، ځکه دلته هیڅوک دا نه خوښوي چې یادې خپلې میرمنې په بې حجابۍ کې ووینې او یا هم نورې ښځې چې په عامه ځایونو کې بې حجابه وګرځي.

همدارنګه حجاب یوه الهي فریضه هم ده رعایتول او د هغه لپاره اجرایي ضمانت د عملي حکمت او حالاتو ته په کتو سره مراعات کیږي او د مسلمانانو امتیازي نښه یې بللی شو. په ځینو ځایونو که تاسې د ښځو د نیولو خبره کړې ده،

[۹۳] دغه ځواب د برحاله چارواکو له خوا په ۱۳ می ۲۰۲۴ نیټه د یوناما د بشر حقونو څانګې ته په پښتو ژبه وړاندې شوی دی. د تناقضاتو په صورت کې د ځواب پښتو نسخه باندې باید استناد وشي.

تر ډېره دا هغه ښځې دي چې په ښارونو کې سوال او ګدايي کو ي، حکومت د ځانګړي شفقت او همدردۍ له مخې هغوی له عامو واټونو ټولو ي او د ژوند اسباب ورته برابروي، حرفوي زده کړې ورکوي او که څوک بيخي ناتوانه وي هغوی ته په کور معلومه اندازه معاش ورکوي، چې دا کړنه د افغانستان د حکومتونو په تاريخ بې سارې ده.

### د. د پارکونو، جيمونو او عامه حمامونو په اړه:

له عامو ځايونو او پارکونو څخه ښځې ندي منعه شوې، تاسې ګورۍ چې اوسمهال ښځې په بازارونو کې سوداوي کوي، ځينې سوداګري او تجارت کوي، د ا.ا.ا له راتګ وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت نږدې ۹۰۰۰ زره ميرمنو ته د کار جوازونه ويشلي، ګڼې ميرمنې په تجارت بوختې دي، ګڼې نورې هغه يې په دولتي سکتور کې دندې پر مخ وړي په ځانګړې توګه د کورنيو چارو وزارت او همدارنګه د روغتيا وزارت په چوکاټ کې.

افغان ميرمنې په مصؤن چاپيريال او هغو ځايونو کې دندې پرمخ وړي چې چېرته يې اړتيا ليدل کيږي.

يوازې هغو ځايونو کې بنديزونه وضعه شوي چې له نارينوو سره يې مختلط چاپيريال و. ا.ا.ا کوښښ کوي چې د خپلو ديني اوافغاني ارزښتونو په نظر کې نيولو سره په ټولو بر خو کې د ښځو د لاس رسی لپاره مصؤن چاپيريال رامنځته کړي او په همدې تکل کې يې ګڼې هڅې عملا ليدل کيږي.

### ه. د ښځو په مشرۍ دکارو بارونو لپاره د خنډونو په اړه:

يوځل بيا غواړو چې تکرار يې کړو، د ا.ا.ا له راتګ سره سم په هغو برخو کې چې د ښځو لپاره د کار اړتيا ليدل کيږي هلته خوندي چاپيريال رامنځته شوی، يوازې د کار او ټولنيزو چارو وزارت پدې لنډه موده کې ۹۰۰۰ کاري جوازونه ميرمنو ته ويشلي دي، همدارنګه د ورغتيا په برخه کې ګڼې مېرمنې په کار بوختې دي هم په خصوصي سکتور کې او هم په دولتي سکتور کې. ترڅنګ يې د کوچينو کار او بارونو په برخه کې هم ګڼې ښځې په کار بوختي دي، ډېرې ميرمنې په ګڼو برخو کې سوداګريزې چارې پر مخ وړي.

### و. د اميندوارۍ د مخنيوي درملو ته د لاس رسي په اړه:

د افغانستان اسلامي امارت اړونده ځانګې ټولې وګړو (نارينه او ښځينه وو) ته ټول هغه صحي چارې او خدمتونه چې د اسلامي احکامو سره په ټکر کې نه وي په بشپړ ډول ژمن دی او ستاسو د ضد او نقيص مستندونو له مخې په ډاګه بيا هم ويلای شو چې ادعا او مصداق مو په ټکر کې دي.

### ز. د افرادو ترمنځ په خپل منځي اړيکو د محدو ديتونو په اړه:

هغه اړيکې چې د د ديني اصولو د ا.ا.ا له قوانينو اوافغاني ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي، پر هغو اړيکو هېڅ محدوديت ندی وضع شوی او نه يې هم کوم څوک يوه بېلګه د نمونې په توګه وړاندې کولای شي. که له پورته ذکر شويو اصولو خلاف اړيکي وي، د خلکو روان ګډوډ کوي، ټولنيزې ستونزې راولاړوي حکومت مکلف دی چې د دا ډول غير قانوي کړنو څارنه او د مخنيوي لپاره يې د خلکو د امنيت په موخه کوټلي ګامونه پورته کړي. د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اوريدلو وزارت مأموريت، ستراتيژی او اساسي اهداف د اسلامي اصولو پر بنسټ ايښودل شوي او هغه موارد چې يادونه يې شوې په ښکاره د اسلامي احکامو او د ياد وزارت د پاليسيو خلاف دي او منعه کول يې الهي فريضه او د محتسبينو مکلفيت دی.

### ح. د نارينه وو د ظاهر د مقرراتو په اړه:

تر دې دمه پورې په ظاهري بڼه کوم محدوديت ندی وضع شوی، فقط په احسنه توګه، ځينې خلکو ته د خپلو اسلامي اوافغاني ارزښتونو سره سم د ظاهري بڼې د جوړونې توصيه شوې ده. پدغه برخه کې ټول ارزښتونه او انساني کرامت په کلکه توګه رعايت شوی دی.

### ط. د مذهبي اعمالو د مقرراتو په اړه:

په جماعت سره لمونځ کول د مسلمانانو د اتحاد او د یو بل د احوالو څخه د خبراوي مهم امر ګڼل کیږي، همدارنګه ټولې هغه کړنې چې په مسلمانانو کې د تفرقې باعث کیږي هم منع دي او په قطعي نص سره مسلمانان په اتفاق باندې ملزم دي او د ټولو سیاسي نظامونو او سیستمونو د تقنیني سندونو اساسي موخه د اتباعو د اختلافاتو مخنیوي او د سیاسي اتحاد حفظ کول دي؛ په خلاصه ډول ویلای شو چې د اسلامي شرعي نظام او سیاست هر امر له حکمتونو څخه خالي نه دي مسلمانان یې په عملي کولو مکلف دي او حاکم نظام یې باید د اجرایي ضمانت لپاره هره ډول کړنې ترسره کړي.

### ظ. د منکراتو مخنیوی: موسیقي او قیلون په اړه:

لکه څرنګه چې د وزارت له تسمیې څخه ثابته ده یو له اساسي اهدافو او مقاصدو څخه یې د منکراتو له منځه وړل دي او په اسلامي قاموس کې ټول منکرات د خطر سرې کرښې دي چې په هغو کې واقع کېدل انفرادي، اجتماعي، اقتصادي زیانونو سره سره انساني کرامت ته لوی زیان رسوي او د ابدي ژوند (آخرت) له مهلکاتو څخه ګڼل کیږي؛ په دې بنسټ د منکراتو مخنیوی د یاد وزارت رسالت، دنده او عملي کول یې لازمي دي.

ترڅنګ یې دا یادونه موږ مخکې هم کړې ده، چې حکومتونه د خلکو د فزیکي امنیت سربیره مکلف دي چې د خلکو رواني امنیت هم وساتي او د ځینو هغو کړنو مخه ونیسي چې د خلکو رواني امنیت اخلالوي.

پورته دواړه یاد شوي موارد دافغاني ټولنې له مزاجه سره هم برابر ندي، د دې لپاره چې د خلکو له لوري یې د مخنیوي غوښتنه په نظر کې نیول شوې وي، حکومت د داسې کړنو په مخنیوي مکلف دی.

### ي. د انسانانو او حیواناتو د انځورونو په ننداړو د بندیز په اړه:

د ضروري مواردو څخه پرته ټول هغه انځورونه چې د خلکو او خاصتاً د ماشومانو په ذهنیت منفي اغیزه پرې باسي وجود یې له هر اړخیزه تاوانونو یې غیر کوم مثبت نتایج نه لري، په اسلام کې ټولې یې معنی کړنې ځای نه لري او ممنوع دي؛ همدارنګه په اسلام کې ټول شخصیتونه په خاصه توګه ښځې ځانګړی ځای لري فلهذا د هغو له تصاویرو څخه د تجارتی اشتهارونو لپاره استفاده د انساني کرامت تر ټولو لوی توهین دی.

### ک. د غیر اسلامي جشنونو پر لمانځلو د بندیز په اړه:

موږ په مخکې مواردو کې هم یادونه وکړه، هره هغه کړنه چې د اسلامي اصولو، د ااا له قوانینو او افغاني ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي، د هغو مخنیوی ندی شوی او که له پورته ټاکل شویو اصولو سره ټکر کې وي اسلامي حکومت یې په مخنیوي مکلف دی.

د اسلام مبارک دین یو اکمل او اتم دین دی د ژوند په ټولو اړخونو کې خپلو پیروانو ته اړینې لارښوونې او اصول لري د عیدینو (دوه اخترونو) دي او دا د آزادۍ له حیطې څخه سرغړونه ګڼل کیږي نو ویلای شو چې د هغو مواردو لمانځل چې تاسو یې یادونه کړې ممنوع دي نو په همدې اساس ایجابي موارد یې هم منع دي او دا یو قبول شوی حقوقي اصل دی.

### ل. د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله و رعاه د فرمانونو، احکامو او لارښوونو د پلي کولو د طریقې په اړه:

د افغانستان د اسلامي امارت د اصولي سندونو بنسټ د امیرالمومنین حفظه الله فرمانونه تشکیلوي چې منشاء یې اسلامي مصادر دي او دا په ټولو مروجو نظامونو کې منل شوی اصل ده چې فرامین او اړوند تقنیني سندونه په ټولنه کې د اصلاحاتو د راستولو په موخه وضع کیږي چې باید د اجرایي ضمانت لرونکي وي او هر ځانګړی تشکیل یې په خپله ساحه کې د خبرولو او بیا پلي کېدو څخه وظیفوي مسؤ لیت لري او زمونږ کړنې په همدې بنسټ لا له پخوا معمول د عمل وې.

**م. په برحاله ادارو کې د شکایتونو اورېدلو په میکانیزم کې د معیارونو د رعایتولو په اړه:**

په دې برخه کې د تدقیقي مطالعې او څېړنې څخه ښکاره کیږي چې عنوان له معنون سره په وروستۍ برخه کې توپیر لري؛ په هر ترتیب د افغانستان په تیر شویو نظامونو کې دا لومړنی نظام ده چې د اسلامي امارت له منسوبینو څخه د شکایت اورېدلو لپاره یوه مرجع خاص کړل شوې او د شکایتونو اورېدلو میکانیزم له اړوندو تقنیني سندونو څخه په خورا ښه توګه څرګندیږي؛ د ښځینه شکایت کوونکو شکایت هم اورېدل کیږي او شکایت یې د حل تر مرحلې په سیستماتیک ډول تعقیبیږي.

**ن. برحاله امربالمعروف او نهی عن المنکر وزرا ت د پراخیدونکې نقش په اړه:**

که حقیقت ته ځیر شو څرګندیږي چې کړنې قانوني او غیر قانونی دي او دا مسلم حقیقت د نړۍ په سطحه څرګند ده په همدې بنیاد د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت هم د اسلامي امارت په چوکاټ کې له هغه اهمې ادارې څخه ده چې د اتباعو د ژوند په ټولو اړخونو کې د ګټې راوستلو او تاوانونو له منځه وړلو ژمنتیا کوي او اصولي سندونه یې لکه پخوا چې اشاره وشوه اسلامي او شرعي مصادر او منهجونه دي نو طبعي ده چې نقش یې د حالاتو او شرایطو په اقتضاء پراخیدونکی ده.

**دوهمه برخه: په بیلا بېلو سیمو کې په راپور کې د یادو سویو پېښو په تړاو ځوابونه:**

**د قندهار ولایت**

۱. د ښځو د سفر په اړه د یوناما ادارې ته وویل شي چې د شرعي سفر له اندازې کمه مصافه کې ښځې په محرم ندې مجبورې شوې او موټروانانو ته یوازې د بې حجابه زنانه وو د نه پورته کولو توصیه شوې.

۲. د ښځو د دوکانونه په قندهار کې درواغ دي حقیقت نلري.

۳. مطلقاً ښځې له زیارتونو څخه ندي منع شوې بلکې بې حجابۍاو غیر شرعي امورو اجرا کولو څخه منع شوي.

**د کنړ ولایت**

۱. د کنړ په ولایت کې د ښځو په تماس بندیز ندی لګول شوی، لومړی په راډیو ګانو کې د ښځو په هغو اړیکو محدودیت وضع شوی چې د اسلامي اصولو اوافغاني ارزښتونو سره په ټکر کې و، ترڅنګ یې د خلکو روان باندې منفي تاثیر درلود، یوازې موسیقي او مبتذل فلمونه منع شوي.

۲. تر ډېره هغه خلک په عام محضر کې په دورو وهل شوي چې جرم یې محکمې ته ثابت شوی او د قوانینو په رڼا کې د سزا مستحق کېل شوی. پدغو تعریزي جز اګانو کې انساني کرامت په نظر کې نیول شوی.

**د هرات ولایت**

۱. د حجاب د نه رعایتولو له امله ښځې له موټرو څخه ندي ښکته شوي بلکې موټروانانو ته د بې حجابه ښځو د نه پورته کولو توصیه شوې.

۲. د حمامونو مالکان ندي جریمه شوي بلکې هغوی ته توصیه شوې چې حمامونه بند کړي د تخلف په صورت کې چا ته د جریمي سزا نده ورکړل شوې.

۳. د سلمانیانو مالکان ندي بندیان شوي بلکې د ږیرو د نه خریلو توصیه ورته شوې.

**د ننګرهار ولایت**

۱. د ږیرې د خریلو او په غربي سټایل باندې د ویښتانو د جوړولو په جرم دوکانونه بند شوي خو دوکانداران ندي بندیان شوي.

**د مزارشریف ولایت**

۱. په بلخ کې موټروانانو ته یې له محرمه زنانه وو د نه پورته کولو خبره نده شوې بلکې د بې حجابه زنانه وو د نه پورته کولو توصیه شوې.

۲. په بلخ کې د ښځو دوکانونه ندي بند شوي بلکې د ښار له مختلفو ځایونو نه دوه مشخصو مارکیټونو ته نقل شوي.

۳. په بلخ کې د حمل د مخنیوي درمل ندي منع شوي او پرې خبر هم نه یو.

۴. په بلخ کې د امربالمعروف ریاست د مېړه او ښځې د نکاح خط غوښتنه نده کړي او داسې کار ندی شوی.

۵. د دهدادي ولسوالۍ کې دوه نیم کاله خلک مسجد ته نه حاضریدل توصیه ورته شوې نو مجبور شولو چې خلک مو بندیان کړل.

۶. د مکررو توصیو سره سره بیا هم چې دوکانداران د جمع لمانځه ته نه حاضریدل دوکانونه یې د څو ساعتونو لپاره بند شوي او بیا دا یو کال کیږي چې د چا دوکان ندی بند شوی.

۷. د بلخ د تاریخي اثارو د ورانولو په هکله د امربالمعروف ریاست هیڅ اقدام ندی کړی، په هغو ځایونو کې چې تاریخي اثار نه وو موجود د نویو تاسیساتو جوړولو لپاره ښاروالي ځینې اقدامات کړي، چې د تاریخي اثارو ساتنې ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده.

**د بدخشان ولایت**

۱. د بدخشان ولایت په ولایت کې سلمانان د توصیې لپاره راغوښتل شوي بندیان شوي ندي.

۲. هیڅوک د سلفیت د تراویحو له امله وهل شوي ندي راپور غلط دی.

۳. د اته رکعته تراویحو ادا کولو له امله هیڅوک هم استخباراتو ته ندي معرفي شوي.

۴. تجارتي لوحو باندې چې د ذی روح عکسونه وو د هغو په مخونو او سرونو سپرۍ وهل شوي شکول شوي او خیرې شوي ندي.

۵. بدخشان ولایت کې په ۲۵ کسانو د دورو تعزیر د محکمې له لوري شو ي، دا جزاګانې د محکمې له پرېکړې وروسته ورکړل شوې، چې ټول اصول پکې مراعت شوي.

۶. د یوه سړي او ښځې د ناجایزو اړیکو له امله د اړونده وزارت له لوري په دورو وهل ندي شوي.

**د خوست ولایت**

۱. ښځې له خریدارۍ نه ندي منع شوي البته د بې حجابۍ او د نرانو او ښځو د اختلاط نه منع شوې.

۲. د ژورنالستانو نیول دروغ دي د رسنیو مالکان د ولایت د مقام په مشوره ریاست ته راغوښتل شوي او د موسیقي او نورو منکراتو د منعې په رابطه لازمې توصیې ورته شوي.

**د بغلان ولایت**

۱. نارینه خیاطان د ښځو د کالیو د اندازې او ناف اخیستلو نه منع شوي ځکه چې دا کار د اسلام دین او افغاني کلتور خلاف دي بلکې د ښځو ناف به ښځې اخلي او د نارینه وو به نارینه اخلي.

۲. د لمانځه لپاره د حاضري کتاب او حاضري اخیستل حقیقت نه لري درواغ دي.

### د پکتیا ولایت

۱. د ښځو دوکانونه په پکتیا کې ندي بند شوي دا درواغ دي.

### د میدان وردگ ولایت

۱. د میدان وردگ ریاست لخوا د حمل د مخنیوي د درملو د منع حکم ندی شوی دا موضوع حقیقت نلري.

### د کندز ولایت

۱. دوکانونه د ماسخوتن او جمعې د لمانځه لپاره بند شوي دي.

۲. د تجارتي لوحو د ذی روح تصویرونه منع شوي.

### د دایکنډی ولایت

۱. په دایکندی کې د اهل تشیع د نه اختر کولو له امله څوک ندي وهل شوي دا درواغ دي.

### د تخار ولایت

۱. یو کس د جمعې د لمانځه د پریښودلو له امله ندي وهل شوي دا موضوع حقیقت نه لري.

### د لوگر ولایت

۱. د لوگر ولایت کارمندان سیمینار ته راغوښتل شوي خو په سنتو د صورت او سیرت د نه برابرۍ له امله بندیان شوي ندي.

### د فاریاب ولایت

۱. په فاریاب کې ۲۹ کسان د مکررو تخلفاتو له امله ریاست ته د لازمو توصیو لپاره راغوښتل شوي په عزت او اکرام بیرته رخصت شوي څوک بندیان شوي ندي.

### د هلمند ولایت

۱. په هلمند کې خارجي مؤسسو او غیر دولتي کارمندانو ته توصیه شوي چې د دي روح عکسونه او یا کارتونونه محو او یا هم سپری سره پټ شي.

### د بادغیس ولایت

۱. په بادغیس کې یوازې د ږیرې د لنډولو له امله ۱۴ کسان ریاست ته راغوښتل شوي توصیه ورته شوي او بیرته رخصت شوي څوک بندیان شوي ندي او نه د لونګۍ او خولۍ د نه په سر کولو له امله راغوښتل شوي.

**پای**